# دافغانستان طبيعي سرچينې

محمد انور وليد : ۱۳۹۷ لمريزکال ـ د وږي ۱۹مه

لومړی برخه :

افغانستان ډېرې طبيعي سر چينې لري خو موږ د د ې سرچينو په لاندې ډول لنډه يادونه کوو :

## A: ـ تدارکاتي برخه :

**لومړی : ـ** د کښت اوکروندې ، **باغدارۍ** ، **مالدارۍ** او دامدارۍ برخه :

**الف : د کښت اوکروندي ( آبي او للمي غنم ، شولې ، جوار، مالوچ ، کنجد ، زعفران ، مشنګ ، باغلي ، نسک ، نخود ، لوبيا ، کچالو ، شلغم ، تور بادنجان ، سره بادنجان ، شرشم ، مميلي ، وربشي ، ترکاری باب ، خربوزي ، هندواني ، او بادرنګ ) برخه :**

لکه ځنګه چې کښت اوکرونده په هيواد کې د اقتصادي محورماشين او ستون فقرات بلل شوی دئ ځکه د افغانستان د خلکو اړتياوې تريوې کچې وربانديې پوره کيږي . د بېلګې په ډول ؛

په ۱۳۹۴ لمريزکال کې په سلو کې تر(۵۵٪) سلنې زياتوخلکوپه مستقيم اوغيرمستقيم ډول لـه زراعت څخه خپل مايحتياج لاسته راوړی وو، په سلوکې (۸۰٪) سلنه خلکوپـه زراعتي برخـه کې د کارروزګاربوختيـاوې لرلـې ، خوغنمو، وريجو ، زعفرانو اونوروغلودانود هيواد اصلي توليدات تشکيلول .

د بـاغونو، دامداريواونورو زراعتي توکوتوليداتو پـه افغانستان کـې د صـادراتوعمده برخـه جوړولـه اودا لړی ترنن پورې همداسې غځېدلې دوام لري .

پخوا افغانستان د دامداريواووچومېووپوترتولو مهم صادروونکی هيواد پيژندل شوی ؤ. خوله بده مرغه چې له څلورولسيزو را په ايسته په پرديونيابتي تپل شويوجګړوکې ددې هيواد ټول بنسټونه د جګړود اورخوراک شول ، زراعتي پراختيا يې وده په کې ودرېدله ، اواقتصادي برخې ته سخت فزيکي اوحتی کيمياوي زيانونه واوښتل .

د افغانستان له ټول مساحت څخه يوازې (۱۲٪) سلنه ځمکه چې (۶۵۲زره کيلومترمربع ) کيږي (۸) ميليون هکتاره يـې د کرلو وړده ، ( ۴٪) سلنه نوره ځمکه يې د اوبولو وړده ، (۴۶٪) سلنه يې د مالچرځمکه تشکيلوي ، (۳٪) سلنه نوره يې په غرونواودښتوکې ځنګلونو پوښلې ده . په ټوله افغاني جغرافيه کې (۷۵٪) زراعتي ځمکې په دريواواتوحوزوکې شته چې د هيواد په شمال ، شمال شرق ، جنوب اوجنوب غرب کې موقعيت لري .

افغانستان يوغرنی هيواد دی ، له سردرو يې د سرشـارو مستو سيندونوخوږومعدني اوبو سرچينې نيولې ، خوکـه چېرتـه د افغانستان همدغه خپلې اوبه سمې او پرځـای مديريت شـي ، آبګردان اود برښنا توليدولو بندونـه او نهري سيستمونه ورتـه ورغوي ، ډېری هغه دښتې به هم تراوبولاندې کړی چې همدا اوس له پيړيو پيړيو را پـه ايسته بـې ګټې لا يزرع اوشـاړې پرتې دي ، پردې سره به له يوې خوا د خپلو مفتو بهېدونکو اوبو مخه و نيول شي ، له بل پلوه به په وچکاليو کې لـه همدې بندونو څخه منظمه ګټه پورته شي ، له بلې خوا به زموږ د خلکو مايحتياج په کورد ننه ور سره پوره او افغانستان بـه خود کفا شي ، له بل لوري به موږ د برښنايي توليد څښتن او له پرديوارداتي برښنايي نيمګړتياوو بـه پرې خلاص شو، لـه بلـه

اړخـه بـه افغانسـتان پـه کـورد ننـه د توليـدي سکتورڅښـتن شـي او دا کـار بـه پـه افغانسـتان کـي يولـوی زراعتـي ، ماشيني ، صنعتي اوصادراتي انقلاب اوبدلون راولي .

لنډه دا چي زراعتـي نظـام پـه افغانسـتان کـي لاهم د بخورونميرشـکل لـري چـي غنم اونـوري غلـي دانـي يـي د هېـواد عمده توليدات جوړوي . له همدې کبله د کورنيو او بهرنيو بنسټونو په مرسته لـه کـاره لوېدلي زراعتـي ځمکـي چـي پـه جګړوکـي يې د اوبولوسيستمونه له کاره لوېدلي وو، بېرته له سره د امکان تر بريده ورغېد ل ، خوډېرى ځمکي لاهم د جګړواوکرل شويوماينونو له کبله له کاره لوېدلي دي ، ځکه چي هلته د کار روزګارپرځای د وارداتي جګړه ئيزفرهنګ حاکميت جاري دئ چي له ورانيوتباهيوپرته بل هېڅ ژبه اوقانون نه پېژني .

بل لورته پرله پسي جګړو او وچکاليوهم زراعت تـه زيـاتـه صـدمه رسـولي چـي لـه کبلـه يـي د افغانسـتان بـي کيفيتـه واردات ورسره ډېرشوي او زموږهېواد د ګاونډيانود بي کيفيته توکو په مارکېټ ورسره بدل شوی دئ . خوکـه چېرتـه مـورد مخـه د انرژيود توليد اوآبګردان بندونواونهري سيستمونومنظم پلانونه اود اوبو مديريت لرلی اود نړيوالوله مرستوڅخه په سمه ملي کچه ګټه اخيستل شوي وای ، اوس به نه له ګاونډيانو سره د خپلواوبو پرسرلانجمني تخريبي جنګي پروژې رواني وې ، نـه به د پردی بي کيفيته وارداتي برښنا رانيولوته اړوو، اونه به په خپل هېواد کي د اوبولـه قحطی سره مـخ وو. پـه ثمررسېدلي باغونه اومالچربه له منځه نه تلل . څاروي به مو نه تلف کېدل .

خو اوس هم وخت لرو، ځمکه موخپله ده ، اوبه موخپلي دي ، واک يي زموږ په لاس کي دئ ، که بهرنی مرستي اوکورني محصـولات سـره يوځـای کړواولومړيتوبونـه پـه منظمـه توګـه د منظموپلانونوپرمـټ تـرلاس لانـدي ونيسـو، کـولای شـوپه لنډ مهال کي له هغه څخه نورعائدات لاسته راوړو . په همدې ترتيب به هم بيا رغونه ګام پـه ګـام پـر مـخ ولاړه شـي او هم بـه زموږ کورني عائېدات د خود کفاء کېدو ترکچي هم ورواوړي او لـه بهرنيـو مشـروطو مرسـتو پرتـه بـه خپلـه پـه خپلو پښـو ودرېږو، بيا موږ د ګاونډ يانوزراعتي وارداتي محصولاتو ته اړتيـا نـه محسوسـوو اوخپلـه بـه پـه کـورد ننـه د خپلو زراعتـي محصـولات له مخي خود کفاء وو. خو که د ترکاري بابو له پاره د هېواد په ګوټ ګوټ کي يخـي خونـي ولـرو، نـود کـال پـه څلوروفصـلونوکي بـه زمـوږ تـازه مېوې اوسبزيجات موجود اوژر بـه نـه خرابېږي چـي دا کاربيـا هـم زمـوږ بزګرتـه اوهم سوداګراودولت ته ډېره ګټه رسوي . خوکه افغانستان په کورد ننـه اولـه کـوره د بانـدې يخـي خونـي ولـري ، د بـازارمونـدني تروخت پورې به زموږ د صادراتوتول مالونه په ژوندی بڼه خوندي اوګټي اخيستني ته چمتووي .

اوس چي موږ له يوې خوا کافي سړې خوني نه لرو، زموږ وچي اوتازه مېوې پرديوهېوادوته ځي ، هغوی يي په نشت بيـه زموږ له سوداګرواخلي اوبيا يي هلته تر پروسس وروسته د پاکستان يـا کـوم بل هېـواد پـه نـوم زموږمېوې نوروملکونوتـه صادرېږي چي له يوې خوا زموږ بزګرواوسوداګرو ته زيانونه اړوي او له بلي خوا زموږ دولت ته پـه اقتصـادي سـکتوراو سياسي برخه کي ډېرتاوانونه رسېږي .

خودولت مکلف دی چي په دې برخه کي خپلوملي ذمه واريو پوره کولوتـه خپـل ملـي لاس وراوږد کـړي اوپـه کمـي اوکيفي لحاظ د کورنيوزراعتي توليداتود ودې اوصادرېدوپه موخـه پـه صـداقت اومېړانـي سـره د خپلوبزګرانواوسـوداګرولاس نيـوی اومرسته وکړي .

ځکـه اوس خـو پـه افغانسـتان کـي د تېلوکورنيـوزراعتي توليداتواوپيـداوارود لوړېدواوټيټېـدوکچي مسـتقيماً د افغانسـتان د خلکواوحکومت پراقتصادي وضعيت باندې هم مثبت اوهم منفي اغېزلري . د بېلګي په ډول :

کـه پـه افغانسـتان کـي د ترياکوپرځـای د زعفرانوکښـت اوکرونـدې تـه وده ورکـړل شـي ، کېداشـي لـه ترياکوڅخـه د زعفرانوحاصلات ګټوروي ، ځکه له يوې خوا بـه زموږځوان کهول لـه اعتيـاد څخـه پـړې وژغـورل شـي اولـه بلـي خوابـه دغيرقانونی نا مطلوب کښت اوکروندې ځای يوه مشروع ، مطلوب اوګټورنبات نيولی وي .

**ب ــ د باغدارۍ برخه ( مېوه دارې او غير مېوه دارې ونې ) :**

زراعت په افغانستان کې د توليداتو يوه ترټولو مهمه برخه جوړوي چې په ناخالص وکورنيو توليداتو، صادراتو، اوخلکوته د کارروزګارپه موندلوکې ډېرد پام وړاقتصادي او ټولنيزارزښت لري .

حميد الله فيضي په تاند ويب پاڼه کې د بڼ دارۍ او په افغانستان کې د اقتصادي غښتلتيا تر سر ليک لاندې يو ه مقاله خپره کړې او په کې ليکلي يې دي چې :

(( د ۱۳۵۰ کا ل په لومړۍ نيمايي کې د افغانستان د ميؤو صادراتو د هېواد د ټولو صادراتو په سلو کې له ۳۷ برخو څخه زياته ونډه درلوده. د م ګړۍ مېوې په افغانستان کې په پراخه سوداګريزه پيمانه روزل کېږي او د دې لپاره چې د زړه د خوښې مطابق ونې او ميوې په لاس راوړو نو بايد نباتات د غيرزوجي تکثير ( Asexual Reproduction) په واسطه تکثيرشي.))

نومورړي په خپله مقاله دې دا هم ويلي چې :

(( ترجنګونو پخوا په افغانستان کې په ۱۴۳ زره هکتاره ځمکه کې ميوې توليدېدلې اودهېواد د ميوو کلنې توليدات ۹۲۰ زره ټنو ته رسيدلي وو. سره له دې چې د افغانستان د ميوو په روزنه کې عصري تکنالوجي په کاراچول شوې نه وه ، خو بيا هم ميوې پکې زياتې توليدېدلې، ځکه چې د افغانستان اقليم ،آب او هوا د ميوو د توليد لپاره خورا مساعده ده .))

بيا يې ويلي چې :

(( دميوو بڼونه د افغانستان په ټولو ولايتونو کې روزل کېږي، خو په ځينې ولايتونو کې د ځينو نورو په پرتله ډېر روزل کېږي ، د مثال په ډول کندهار، هرات، اروزګان، زابل، غزنې، وردګ، پروان او ځينې نور، د نورو ولايتونو په پرتله د ميوو په توليد کې ډېر شهرت لري. اوسمهال د دې لپاره چې په افغانستان کې بڼوالي( باغداري) علمي بڼه غوره کړي او دميوو دتوليد اندازه يې د نړۍ له نورو هېوادونو سره سيالي وکړای شي، بايد دهغوې د روزنې، سمون او ساتنې لپاره عصري کرنيزه تکنالوژي په کار واچوله شي او ميوې د غير زوجي تکثير په واسطه تکثير شي او دتخم له تکثير څخه مخنيوې وشي.

نوې خبره داده چې د هلمند د کرنې رياست په دغه ولايت کې ۱۵۰۰ د ميوو باغونه جوړوي. د دغه رياست په وينا دامهال ۸ زره نيالګي دغو باغونو ته په پام کې نيول شوي. دغه نيالګي د ولايت د کرنيزو چارو د ټولنې له لورې اخيستل شوي او په باغ لرونکو وېشل کېږي.))

ښاغلي فيضي ويلي چې :

(( دا ډول پروګرامونه د باغ لرونکو د اقتصاد د پياوړتيا تر څنګ د ولايت د عوايدو په لوړولو کې هم مرسته کوي. افغانستان يو کرنيز هېواد دی او د دې هېواد په سلو کې ۸۵ سلنه وګړي يې د کرنې په چارو بوخت دي. مېوې اوسابه د کرنې د کلچر يا باغدارۍ مهمه څانګه جوړوي، د کرنې يو مهم سکتور بلل کېږي او د هېواد په ملي اقتصاد کې ستره ونډه لري.

په ټوليزه توګه که د يو هېواد اقتصاد ته غور وکړو نو څرګندېږي چې د هېواد اقتصادي سيستم په صنعت او کرنې تکيه لري چې د کرنيز سکتور څخه خام مواد د صنعت لپاره چمتو کېږي او بيا د توليد لپاره ترې ګټه اخېستل کيږي. د دې لپاره چې د صنعت سکتور په سمه توګه پرمختګ وکړي نو کرنيز اصلاحات ډير اړين دي. په دې مانا چې د کرنې د سکتور توليدات بايد تر ډيره بريده ډير کړای شي، څو د صنعتي سکتور ټولو غوښتنو ته په صحيح توګه ځواب ووايي. د کرنيزو توليداتو د لا ډېرښت په موخه بايد د کرنې په سيستم کې

اصـلاحات راشـي ( ښــه تخمونــه ، ښــي کيميـاوي ســري ، تراکتورونــه او نــورو اړونــده ماشـينونو څخــه اعظمــي ګټــه واخېستل شي څو کرنيز سکتور هم په اقتصادي پرمختګ کي خپل بشپړ رول ادا کړي.))

په مقاله کې حميد الله فيضي زرغون انقلاب ته په اشارې سره ويلي چې :

(( افغانســتان اوســمهال د زرغــون انقــلاب لپــاره ډيــره اړتيــا لــري او د دې ترڅنــګ د هغــو شــاړو ځمکــو د کرلــو اړتيــا ورســره هــم مــوازي محسوســيږي کــومې چــې بيکــاره پرتــې دي. د شــين انقــلاب تجربــو د نــړۍ پــه ډيــرو هېوادونــو کــې لکــه هندوســتان ، ســويلي امريکــا او تايلينــډ کــې ښــودلې ده چــې د يــاد انقــلاب پــه پايلــه کــې د هغــوی د ځمکو حاصلات څوچنده زيات شوي دي.

د کرنيــز زرغــون انقــلاب د راتــګ لــه املــه د هېــواد اقتصــاد پرمختــګ کــوي او ورســره څنــګ کــې يــې اغيــزې پــه ټولنــه کــې لــه ورايــه څرګنديږي. زرغــون انقــلاب داســې يــوه پروســه ده چــې لــه املــه يــې د مزدورانــو دکــار پــه مولــديت او ځــواک کــې ډيرښــت راځــي ، خــو افغانســتان کــې لاهــم کرنيــز ســکتور پــه بشــپړه توګــه ميکــانيزه شــوی نــه دی او اوس د هېواد په ډيرېر برخو کې د کال په يوه فصل بسنه کوي.

د کرنيــز زرغــون انقــلاب پــه تــرڅ کــې د اوبــو رســوني سيســتم جــوړيږي، د نهرونــو نظــام غښــتلي شــکل ســره رامنځتــه کېږي او د دې کــارونو پــه رامنځتــه تــګ ســره نــه يــواځې ټــولنيز جوړښــتونه بــدلون مــومي، بلکــې اقتصــادي پرمختــګ په چټک ډول رامنځته کېږي . ))

نوموړي ويلي چې :

(( پــه دې کــې هــيڅ شــک نشــته چــې افغانســتان يــو کرنيــز هېــواد دی او اقتصــاد يــې پــه کرنــې ولاړ دی، نــو کرنيــز محصــولات يــې هــم پــه ځــانګړې توګــه د ســيمې پــه کچــه او هــم پــه نړيوالــه ســطحه يــو ځــانګړی ځــای لــري، نړيوالــه ټولنه هم له پخوا را هيسې افغانستان په سيمه او نړۍ کې د کرنيز هېواد په توګه پيژني.

د متحــده ايــاالتو د نړيــوالې همکــارۍ اداري (USAID) او د کرنــې د احصــايي پــه وينــا، 80٪ افغانــان پــه کرنــې او مالــدارۍ بوخــت دي، اوهرکــال 31٪ ناخــالص عوايــد د خپلــوکرنيزو محصــولاتو څخــه اخلــي، د افغانســتان ډيــری صادرات هم د کرنې او مالداري محصولات دي.

نــو پــه دې لحــاظ، کرنــه او مالــدارۍ د افغــاني ټــولنې پــه اقتصــادي جوړښــت کــې خپــل ځــانګړی ارزښــت لــري ،کرنيــز مــاهران او کــر کيلــه د افغانســتان د اقتصــاد خــورا مهمــه برخــه ده، او اقتصــادي تحليــل ګــران هــم پــه دې بــاور دي چــې پــه اوســنيو شــرايطو کــې يــوازې د کرنــې ســکتورته پــه وده ورکولــو ســره پــه افغانســتان کــې د پــام وړ اقتصــادي بدلونونه رامنځته کيدلای شي.))

ده زياته کړې چې :

(( دافغانســتان اوســني کرنيــز حالــت او د لاښــه والــي لپــاره بايــد کــوټلي ګامونــه واخيســتل شــي، ځکــه چــې دا د هېــواد د اقتصادي غښتلتيا لپاره يوازينۍ غوره لاره ده.

د اقتصــادي چــارو د کارپوهــانو پــه وينــا کرنــه نــه يــوازې پــه اقتصــادي پرمختــګ کــې يــو فعــال رول لوبــوي، بلکــه کــولای شــي پــه پرمختللــو هېوادونــو کــې د اقتصــادي جوړښــت پــه بنســټونو کــې پنځــه مهمــې مرســتې وکــړي: "د کــار، پــانګونې، پيســو چمتــو کــول ، د صــنعت د مخ پــر ودې ســکتور لپــاره خــام مــواد، او د توليــد شــويو توکــو لپــاره مناسب مارکيټ رامينځتــه کــړي چــې لــه يــوې خــوا بــه د بيــوزلۍ لمنــه ټولــه کــړي او لــه بــل پلــوه بــه د جګــړې پــه توليــدا کــې خپل مثبت اغيز وشيندي.))

محمد برات د (( محصول باغهای بادام سمنگان )) ترسر لیک لاندي مقاله کي چي پژواک خبري آژانس نشر کړي ليکلي چي : همدا روان کال د سمنګانو د بادامود باغونوحاصلات تر(۴۱۵۰) ټنوپوري رسېدلي چي د تېرکال په پرتله (۳۸٪) زیاتوالی په کي راغلی دئ . ))

په زابل ، کندهاراوکاپیسا کي هم د بادامواواناروپه رزګونو باغونه شتون لري ، په پکتیکا ، پکتیا ، بادغیس اود شمال په نورو ولایتونوکي د پیستي ، بادامواو چهارمغزوخودي دښتي اوکوهي باغونه دي چي په زرګونو او لکونو ټنه مېوې تري ترلاسه کېږي . همداسي د افغانستان په ډېرى ولایتونوکي د منو، زردالیو، انګورو، ناکو، اونوروډول ډول مېوو باغونه شته چي پروسس ، سروخونواوپرخپل وخت مارکېټ موندلوته اړتیا لري که حکومت اوخصوصي سکتورپه ګډه ددي باغونو په وده اود مېووپه کیفیت اوکمیت کي پانګونه وکړي ، کېدی شي له دې لارې د افغانستان اقتصادي وده څوچنده ورسره زیاته شي .

ولي متأسفانه چي افغانستان دا مهال په کافي اندازه نه د مېوه لرونکوونوله باغونوساتنه کړي ، ځکه له تېروڅلورولسیزورا په ایسته څومره چي جګړوځپلي ، همدومره باغونواو زراعتي سکتورته هم تاوان په کي رسېدلی ، وني په بمونواومرمیوله منځه تللي دي ود ابود ترابوسیستمونوله امله یي وني وچي شوې دي ، وسله والواونوروخلکوېي وني سوځولي دي .

د ظاهرشاه او داؤد خان د وخت د زراعت پخوان ني وزیرفقید ډاکټر صیب عبد لوکیل ماته خپله وویل چي ما په خپل مأموریت کي په ټول افغانستان کي د منو، زردالیو، آلوبالو، اونورومېوو(۴۵۰۰) باغونه ابښي اوټول په ثمرراغلي وو، خود روسانو، پاکستانیانواوامریکایانوپه راتګ سره هغه باغونه چي کلونه کلونه یي خپله د ډاکټر وکیل له خوا نرسریزه پالنه اوروزنه شوې وه ، نن له هغو باغونوڅخه یو یي هم سلامت نه دی او که کوم یو چېرې پاتي وي هغه هم په نشت حساب دی ، که دغه باغونه همدا اوس موجودوای ، اوهرباغ لږترلږه د کال یوټن مېوه حاصل ورکولی ، اوس به یوازې له همغوباغونوڅخه ( ۴۵۰۰ ) ټنه مېوه موږ لرلی .

پردې سربېره موږ په افغانستان کي غیر مېوه لرونکي وني لکه (( سپېدار، خروله ، پنجه چینار، د صبروني ، څېړۍ ، او داسي نورې )) وني هم لروچي له لرګیوڅخه یي د سون توکو، د کورونو په جوړولو، اوچوبي صنایعوکي کاراخلو، خودغه ډول وني اکثره په غرنیو سیموکي شتون لري چي د جګړواونوروکورنیواوسیمه ییزومافیایي کړیواوزورواکوله لاسه یي ډېرزیانونه لیدلي اووینې یي . که ددغوبې مېوې ونوسمه اوپرځای روزنه اوپالنه اومدیریت وشي افغانستان به له دغي لارې ډېره ګټه ترلاسه کړي چي متأسفانه اوس مهال ددغو لرګیو ټوله ګټه د غلواومافیایي کړیو شخصي جیبونو ته لوېږي ، دولت اوخاموش اکثریت ترې محروم دی .

که ددغه ډول خپلسرووهلومخه یي ونه نیول شي، پاتي نورې به له منځه یوسي اوافغانستان به په سپېرودښتو، کښ اوشاړو بدل کړي اومافیایي ډ لي اوزورواکي به په ګاونډیوهېوادواونوره نړۍ کي خپل سوړتجارت اوخپل ژوند وربانډې جوړکړي اواوږد مهاله ملي زیانونه به یي د دولت اوملت پرکاواکه اوږو وربارروي چي دا بیا هېچاته د منلونه ده ، ځکه هرڅوک باید خپل ملي مسؤولیت د خپل واک پرمهال اداء کړي .

ج: د مالدارى برخه ( اهلي اوغیراهلي ژوي ) :

**د افغانستان د مالدارۍ د پیاوړتیا لپاره نوې هڅې :**



افغان حکومت او نورې اړوندې ادارې وايي چې په دې لړکې ميليونونه څاروي له منځه ولاړل او ډېرى مالدارې کورنۍ او سيمې بې څارويو شوې.

په ملګرو ملتونو پورې اړوند د خوراک او کرنې اداره (اف اې او) وايي چې په تېرو څو کلونو کې ميليونونه څاروي په افغانستان کې له منځه تللي .

افغانستان چې يو کرنيز هېواد دی، د اقتصاد لويه برخه يې په کرنې او مالدارۍ ولاړه ده ، وروستيو وچکاليو او اوږدو جنګ جګړو يې ستونزې ډېرې کړې دي .

په افغانستان کې د مالدارۍ پر وړاندې ستونزې د جګړو له پيله تر نن پورې ډېرې شوې دي . افغان حکومت او نورې اړوندې ادارې وايي چې په دې لړکې ميليونونه څاروي له منځه ولاړل او ډېرى مالدارې کورنۍ او سيمې بې څارويو شوې .

اوس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې برخې هوډ کړی چې د دغه هېواد د مالدارۍ برخه يو ځل بيا ورغوي . ددغې ادارې د لبنياتو د څانګې مشر لطف الله رنګ وايي چې د افغان جګړې کلونه ددغه هېواد د مالدارۍ لپاره تر ټولو خطرناک کلونه وو.

نوموړی ټينګار کوي چې ملګرو ملتونو د څارويو د نسل د اصلاح، روغتيا او تغذيې لپاره پراخ پروګرامونه په پام کې نيولي او تر دې مهاله يې ډېره اغېزه لرلې ده. ددې ترڅنګ هغه ټينګار کوي چې په سيمو کې يې د خلکو لپاره د مالدارې لارې چارې ښودلي او په دې توګه يې له دې لارې تر پخوا د خلکو عوايد ډېر کړي دي .

ښاغلی رنګ ددې ترڅنګ زياتوي چې تر دې مهاله يې په يو شمېر سيمو کې تر ٤٦ په سلو کې د څارويو نسل اصلاح کړی دی .

افغانستان يو کرنيز هيواد دی او ډېرى اوسېدونکي يې په کرنې او مالدارۍ بوخت دي. کارپوهان په دې اند دي که په دغه هېواد کې د کرنې ترڅنګ مالدارۍ ته ډېره پاملرنه وشي، نه يوازې داچې کليوالو او بزګرانو ته ور اوښتي پخواني زيانونه به جبران شي، په روان حالت کې به هم ددغه هېواد اقتصاد ته ډېره ګټه ورسوي .

پوهنياراحمد فريد روان په خپله يوه خپره کړې مقاله کې ويلي چې : افغانستان يوغرنی هېواد دی چې د اسيا په زړه کې پروت دی، مساحت يې ۶۵۲۰۰۰ کيلو متر مربع دی او تقريبا ۳۱ ميليونه نفوس لري. په اقتصاد کې يې کرنه او مالداري مهم رول لري، خو په دومره کچه نه ده، چې خلک يوازې خپل ورځنی ژوند پرهمدې بسيا کړي او يا نوروهېوادو ته حيواني او زراعتي محصولات صادر کړي. کرنه او مالداري سره تړلي کليمې دي، کله چې د کرنې څخه يادونه کېږي؛ نو طبعا د مالدارۍ کليمه ورسره مخې ته راځي او که د مالدارۍ په اړه بحث شي، نو د کرنې کليمه بې پوښتنې مخ ته کېږي، ځکه له کرنې څخه ډېر لاس ته راغلي محصولات يوازې د حيواناتو په وسيله په ښه ډول په مصرف رسېږي.

د يوې څېړنې له مخې په افغانستان کې ۳/۷ ميليونه غواګانې، ۸/۸ ميليونه پسونه، ۷/۳ ميليونه اوزې، ۱۴۰۰۰۰ اسونه، ۱/۶ ميليونه مرکب او ۱۲/۲ چرګان شتون لري ( FAO 2003) چې په دې شمېره کې د شل کالو پخوا په نسبت ٪۴۰ کموالی راغلی دی. چې زيات لاملونه لري.

۱ـ زموږ د ناسمو اعمالو له کبله څاروي هم کړېږي، د بارانونو نشتوالی او د دوامدارې وچکالۍ له امله څرځايونه وچ شول، يا خو زياتره څر ځايونه د زورواکو لخوا شخصي ملکيتونه شول او کوم چې پاتې دي او د څارويو د استفادې وړ دي هلته، نو بيا ناامنی ترې څاروي او څاروي وال محروم کړي دي.

۲ـ کرنې او مالدارۍ ته د کرنې وزارت نه پاملرنه، د وزیر نه یې واخله تر مامور پورې یې د سهار چای د شېدو، اېشدلې هګۍ، او پنیر. غرمه کې چرګان، کړیان، کباب تر ځنګ یې مستې او ماښام کې ورته خوراک. کله کله د تفریح لپاره بیا د ماهیانو پارټۍ، نو د خدای په خاطر دا فکر خو وکړه چې دا ټول خوراکونه په مالدارۍ کې پراته دی، تا ورته څه وکړل؟

مالداري ورځ تر بلې مخ په کمېدو ده، بلکې په ختمېدو ده. په تېرو دیارلسو کالو چې دنړیوالو مرستې درته را روان دي، خو د وزو، چرګانو او یا د غواګانو کوم فارم جوړ نه شو، چې پکې د مسلک یو څو تنه په وظیفه وګومارل شي او هم حیواني پیداوار زیات شي، او نه د شته څارویو د بهبود لپاره کوم منظم پلان جوړ شو.

۳ـ په کلیوالو سیمو کې پاراویټان او غېر مسلکي کسان چې د وترنرۍ په هغه لار هم نوي تېر شوي، د یو پارا ویټ سره یې یو دوه ورځې په درملتون کی تېرې کړې وي، په بله ورځ به یې د مختلفو څارویو عکسونه په لوحه رسم کړي او د خپل نوم سره به یې په شین او ژېړ رنګ غټ د ډاکتر کلیمه لیکلې وي، د نوم لاندې یې بیا لیکلي وي چې د مصنوعی القاح، جراحی، حاملګۍ تشخیص، د هری ناروغۍ واکسین، لابراتواري معاینات او د هر نوعه ناروغۍ تداوي سهولتونه موجود دي، د لوحې په لاندې برخه کې عالي تحصیلات په پاکستان کی، د رابطی لپاره دری ډوله د موبایل نومرې لیکلې وي.

ځکه منظمه اداره نشته چې دا وڅاري او اسناد یې ولیدل شي. بیا خو زموږ د تعلیم کچه هم په هغه سطحه ده، چې دوی بیا یوازې په نامه غولېږي چې د پاکستان نوم په لوحه ولیدل شی بیا نو د لرې لرې کلیو څخه کروندګر ورته خپل څاروي را روان کړي، چې د پاکستان نه ډېر تکړه ډاکټر راغلی دی.

تکړه ډاکتر صیب د دوا لست په پښتو لیکلی وي، په ښار کی به د حیواني دواخانو په عمده فروشۍ ګرځي په کوم یو کی چې ارزانه دوا پیدا کړه هغه به واخلی او بیا یې په کلي کې په لوړ قیمت پلوری چې نه د ناروغۍ د عامل نه خبر او نه یې په درملنه پوهیږي، مالدار ته د څاروی د درملنې لپاره د بکتریاو ضد، پرازیت ضد، د درد ضد او د تقویې لپاره دوا ورکړي او څومره پیسې چې وغواړی ترې واخلی، ځکه د ډاکټر سره خو حساب نشته. کله چې مالدار لاړ شي بیا وایي، څه !! د چره یز ډز مې پرې وکړ یو نه یو خو به پرې تاثیر وکړي.

د کابل، ننګرهار، هرات او نور پوهنتونونه هرکال په لوی شمېر محصلین د وترنرۍ له پوهنځیوو فارغوي، خو د دولت او په خاص توګه د کرنې او مالدارۍ وزارت د بېغورۍ او په خپلو دندو کې د پاتې راتلو په اساس نوموړي فارغین خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره هرې دندې ته ځان چمتو کوي، خو دولت دومره ظرفیت نه لري، چې د دولت په چوکاټ کې خپلو کدرونو ته کار ورکړي او نه هم دولت ورته په خصوصي سکتور کې د کار زمینه برابرولی شي، چې دا یوه لویه ستونزه او سرخوږی دی.

له بل پلوه افغانان په طبعي توګه د مالدارۍ سره لېوالتیا لري، ډېری وګړي په خپلو شخصي کمو امکاناتو د چرګانو فارمونه جوړوي، یو خو خپل شوق پوره کوي او بله دا چې د ژوند د اړتیاو پوره کولو لپاره د یو روزګار په بڼه ترسره کوي او ګټه یې هم زر لاس ته راځی، خو دولت دلته هم د فارمونو له خاوندانو سره هېڅ راز مرسته نه کوي.

نو په دی سره د چرګوړو د مرګ سلنه ډېره راټیټه شوې او له بل پلوه هیوادوال د خپل هېواد تولید شوي تازه او صحي غوښه په مصرف رسوي، چې د پاکستان څخه د زړو چرګانو په وارداتو کې یې د پام وړ کموالی راوستی دی.

که دولت غواړي چې هېوادوالو ته صحي محصولات برابرکړي اودګاونډیوهېوادونوله بې کېفیته محصولاتو یې خلاص کړي، نوپه کار ده چې دولت په ولایتونواو ولسوالوکې د غواګانو، وزو او پسونو دوه دوه او یا تر دې هم ډېر بېلابېل فارمونه جوړ کړي او خپلو هېوادوالو ته سم او سالم صحي محصولات په واک کې ورکړي.

دولت ته پکار ده چې د دې تر څنګ په ولسواليو او کليو کې تشخصي کلينيکونه جوړ او مسلکي کسان په دندو وګوماري،

چې څاروی په وخت واکسين، د ناروغيو تشخيص او پر وخت يې درملنه وکړي او دغه راز دولت بايد د عامه پوهاوي له

پاره عام المنفعه پروګرامونه په لاره واچوي .

**د مالدارۍ په برخه کې له فغانستان سره د چک جمهوري د همکارۍ هڅې**

د کرنې وزارت د مالوماتو له مخې، له دې وړاندې د چک جمهوريت په افغانستان کې د مالدارۍ په برخه کې ځينې ستري پروژې عملي کړې دي.



**د چک د کرنې وزير مارين جوريکا وايي چې د دغه هېواد حکومت چمتو دی ترڅو د ښوونې او روزنې سربېره له افغانستان سره د کرنې په برخه کې هم مرسته وکړي.**

په همدې حال کې مارين جوريکا ته په کابل کې د کرنې او اوبو لګولو وزير اسدالله ضمير ويلي چې مالداري په افغانستان کې يوه له مهمو اقتصادي برخو څخه دي چې په تېرې يوې نيمې لسيزې کې په دې برخه کې ښې پايلې ترلاسه شوي نه دي، له همدې امله حکومت هڅه کوي ترڅو د چک په ګډون د نورو هېوادونو همکاري ترلاسه کړي.

ښاغلي ضمير زياته کړه:«يوه له هغو برخو څخه چې موږ يې کولای شو د چک هېواد له پوهې څخ استفاده وکړو او په افغانستان کې هغه تطبيق کړو د مالدارۍ په برخه کې ده او په ځانګړې توګه د نسل په اصلاح کې، اصلاح نسل هغه برخه ده چې په افغانستان کې د ۱۵ او ۲۰ کلونو په اوږدو کې پر هغه کار نه دی شوی«.

د جاپان د نړيوالي همکارۍ ادارې(جايکا) د افغانستان د کرنيز سکتور سره د خپلې مرستو په دوام باندې ټينګار وکړ.

د جايکا د ادارې لوی مرستيال ښاغلي اتانابی ماساتو د افغانستان و کدنې وزير محم آصف رحيمي ته وويل:




"افغانستان د جایکا لپاره ډیر مهم او د دې اداري د فعالیتونو په لومړیتوبونو کې دی" ده زیاته کړه، چې هېواد یې دې ته چمتو دی،چې افغانستان د د بشري وړتیا د لوړولو، اوبولګوني، د مرسته کوونکو سره د همغږیتوب، په جاپان او بهر د لوړو زده کړو لپاره د زمینې برابرولو، او د افغانستان په اتو ولایاتو کې د وریجو د کرنې او حاصل ورکوونی په برخو کې به مرسته وکړي.

د جاپان نړیواله همکاره اداره(جایکا) د اوبولګوني د ریاست د وړتیا د لوړولو په برخو کې، د لیسانس او ماسترۍ په برخو کې د لوړو تحصیلاتو لپاره د زمینې برابرولو او هم په اتو ولایاتو کې د شولو د کرلو او د حاصلاتو د راټولولو په برخو کې فعالیت کوي.

## د کرنې او مالدارۍ په سکټور کې پانګونه

د کلیوالو سیمو ٪۸۵ څخه تر٪۹۰ وګړي په کرهنې او مالدارۍ بوخت دي او د ټول هیواد ٪۷۶ وکړو په معیشیت کې خورا ارزښتمن رول لوبوي. په دې وروستیو کلونو کې کرهنه او مالداري د افغانستان ٪۲۵ ناخالصه کورني تولیدات په بر کې نیسي. که څه هم، د تیرې درې لسیزې جګړې له امله د کرهنې او مالدارۍ سکټور خورا ډیر زیانمن شو خو د څو کلنو راهیسې حکومت، ښکیلو اړخونو او بزګرانو ډېرې هڅې کړي دي چې د کرهنې او مالدارۍ سکټور بیا را ژوندی کړي. افغان حکومت غواړي چې د کلیوالو سیمو اقتصادي وضعیت په وده کې ډیره پاملرنه وکړي او دغه کار ئيِ په خپل لومړیتوب کې نیولی دی. سربیره پر حکومت، نوموړې برخې د نړیوالو بلاعوضه مرسته کوونکو پاملرنه هم ځانته راړولې ده. په افغانستان کې د کرهنیز اقتصاد پرمختګ او کرهنیزو توکو د پروسس په برخه کې ډیر تاکید کیږي ځکه چې دواړه برخې په کور دننه تولیدي توکو او لګښت په برخه کې په ځانګړې توګه د ټول هیواد په اقتصادي پرمختګ کې خورا مهم رول لوبوي.




په ناخالصه کورني تولید د کرهنې ا و مالدارۍ ونډه

### د کرنې فرعي سکټورونه :

- **بڼوالی**

تازه میوې، سابه، مغز باب، زیتون او داسې نور

- **غلې دانې**

غنم، جوار، چغندر، اوربشې

- **حیواني محصولات**

لبنیات، شیدې، شات، چرګان، غوښه، کبان او داسې نور

- **حبوبات**

لمرګلی، زغر، کونځلی اوداسې نور

- **مسالې او درملیز بوټي**

زعفران، زیره داسې نور

### د کرهنې او مالدارۍ د ارزښت کړۍ (Value Chain) په سکټور کې د پانګونې فرصتونه:

### تولید او پروسس:

- د وچو میوو او مغزبابو پروسس
- د مرباګانو، جوسونو او چکنیو تولید
- د زیتونو تیل او اچارو تولید او پروسس
- د اوړو او بورې د ژروندو جوړول
- د کچالو پاپړو تولید
- د کلچو او بسکیټونو تولید
- د پاستوریزه شویو لبنیاتو لکه شیدو، مستو او پنیر تولید
- د پروسس شویو غوښو تولید
- د وچې پروسس شوې غوښې تولید
- د نباتي تیلو جوړول او پروسس
- د سړو خونو جوړول
- د کشمړې او کشمړئي کالیو تولید
- د مالوچو پروسس او مالوچې سپنسیو تولید
- د څرم تولید

## کڅوړه کول (PACKAGING) :

- د وچو او تازه میوو کڅوړې
- مرتبانونه، قطي او د قطیو پوښونه
- ښیښه اي او پلاستیکي بوتلونه
- پلاستیکي لفافي
- تیترا پیک کڅوړې

## راکړه ورکړه او بازار موندنه

- د ټرانسپورټ او لوجستیکي خدمتونو وړاندې کول
- د بازار موندنې خدمتونه
- د سوداګریزو ملګرتیاو رامنځته کولو خدمتونه
- د براینډینګ خدمتونه(Branding)

**د: د دامدارئ برخه ( د مرغانواوکبانوفارمونه ) :**

## الف : په افغانستان کې د شاتو د تولید او بسیا کېدو کچه :



**افغانستان دا مهال  په کال کې دوه مېليونه کيلوګرامه شات په کور دننه توليدوی، ټولټال پينځه ميليونه کيلوګرامه شاتو ته اړتيا لري . (۲۳۷۰۰) کسان چې په هغو کې (۶۵۲) تنه يې مېرمنې دي د شاتوتوليدولو په کاروبار لګيا دي . خو (۳۴۷۲) تنه نوريې بيا په ځانګړي ډول د شاتو مچيو کارو بار کوي . په (۲۰۱۶ ) زيږديزکال کې (۲۳۷۰۰۰) صندوقه مچۍ لرونکو خلکو ته ورکړل شوي دي ، خو افغانستان د شاتو مچيو د يومېليون صندوقونو ظرفيت لرى .**

---

دکرهنې اومالدارۍ وزارت چارواکوويلي چې ورم کال د ټول هېواد په کچه په کوردننه نږدې دوه ميليونه (۱۸۶۴۵۰۰) کيلوګرامه شات توليد شوي وو ، خوافغانستان په کال کې (۵۰۰۰۰۰۰) کيلوګرامه شاتوته اړتيا لري چې د خپلې اړتيا پوره کولو دا تشه له بهرنيوهېوادوڅخه ډکوي .ځکه اوس مهال افغانستان له پاکستان ، سعودي عربستان ، آلمان اوامريکا څخه شات را واردوي او دشاتو خپل صادرات موږ نه لرو.
له نن څخه درې کاله وړاندې زموږ هېواد (۱۰۰۰۰۰۰) کيلوګرامه شات تو ليد کړی وو، خو په (۱۳۹۵) لمريزکال کې دا کچه (۲۰۰۰۰۰۰) کيلو ګرامو ته لوړه شوه . له دې نه دا جوتيږي چې له يوې خوا افغانان د شاتومچيوله روزلواود شاتو له توليد سره مينه لري اوله بلې خوا افغانستان د مچيود توليد ، تکثراو شاتو ترلاسه کولو له پاره يو مناسب هېواد دئ . که چېرته په دې برخه کې د آسانتياوو ورته مخه اوخلک يې مسلکي شي ، کېدای شي په لنډه موده کې افغانستان د شاتو د توليد په برخه کې د خود کفا يۍ ترکچې پورې ورسوي .
په (۱۳۹۴) لمريزکال کې د خالصوشاتوتوليدي کچه (۱۳۰۰۰۰۰) کيلو ګرامو ، يا په بله وينا (۱۳۰۰) ټنوته جګه شوې وه . د شاتودغه ډول توليد په بدخشان ، تخار، کندز، ننګرهار، لغمان ، هرات ، ميدان وردک ،غزني ، کاپيسا اولوګر ولايتونوکې دبزګرانواومالدارو له لارې لاسته راغلي .
اوس مهال په ټول هېواد کې (۳۴۷۲) تنه خپلسري مچۍ لرونکي کسان ، (۹) اتحاديې او (۵۸) کوپراتيفونه د شاتومچيو په کاروبارباندې لګيا دي چې د حاصلاتوکچه يې هم ورته د باوروړده . ځکه له هرصندوق څخه په کال کې له (۱۰) تر (۱۵) کيلوګراموشاتو پورې حاصل ترلاسه کوي . چې د يوه کيلوګرام خالصوشاتو بيه له (۸۰۰) څخه تر(۱۰۰۰) افغانيو پورې ده .
د کرهنې اومالدارۍ وزارت مچيوروزنوکوافغانانوته د ټول افغانستان په کچه (۲۳۷۰۰۰) د مچيوصندوقونه وېشلي ، خودا هم کفايت نه کوي ، ځکه افغانستان د شاتومچيوله پاره د (۱۰۰۰۰۰۰) صندوقونوظرفيت لري خود جګړواونا امنيوله امله لا تراوسه ددې فرصت نه دئ برابرشوی چې يادې کچې ته ځانونه ورسوو .
يعنې د شاتوله يوصندوق مچيوڅخه په کال کې په اوسط ډول د (۱۵۰۰۰) افغانيو معادل حاصل ترلاسه کوي . خوکه چېرته يومچۍ لرونکی (۵۵) صندوقه مچۍ ولري دهغه کلني عائدات به په اوسط ډول (۱۰۰۰۰۰۰) افغانيوته لوړشي چې نوموړی بزګراومالدارله دې لارې څخه خپل خان اوخپله کورنۍ په سمه توګه خود کفا کولی شي .
که چېرته دغه فرهنګ عام شي په لنډه موده کې زموږ بزګران اومالدران کولی شي خپل هېواداوهېوادوال د پرديوبې کيفيته شاتوله قيمتي وارداتوڅخه وژغوري اوافغانستان په کورد ننه دخودکفايۍ ترکچې پورې ورسوي .خود کرنې اومالدارۍ

وزارت دنده داده چي ددې ستوزې ليرې کولو او خپل هېواد د خودکفاء کېدو پرخوا بېولوله پاره مچيولرونکوته د مچيو روزلو په تړاوسمه کلاسيکه او مسلکي روزنه ورکړي ، کورسونه ورته جوړکړي ، هغه هېوادو او نهادو ته لکه د فرانسي د پراختيا يي آژانس مالي ملاتړ چي د مچيو په روزلو او مسلکي کېدو کي له افغانانو سره مالي مرستي کوي بايد د لازياتو مرستو جلبولو لاسونه وراوږده شي ، اوپه مرسته يې په افغانستان کي د مچيودروزلو د تکثراو تداوۍ لارې چارې په کوردننه سمبال شي ، ترڅوزموږمچۍ لرونکي هېواد وال د پاکستان په څېرهېوادوته د خپلو مچيو د تداوۍ له پاره اړتيا پيدا نه شي .

**موخه :**

داچي ولي په افغانستان کي د شا تو توليد ته اړتيا ده ، د کرهڼي اومالدارۍ وزارت د خپلي سکتوري دندې اووظيفوي مسؤوليت له مخي مکلف دئ چي له يوې خوا د شا توخپل کورني توليدات د خود کفا کېدواوصادراتوترکچې پورې په مسلکي توګه لوړکړي ، ترڅو له يوې خوا زموږ خپله کورنۍ اړتيا پوره کړي ، د افغانانو پيسي او پانګي پرديو جيبونو اوبانکونوته ونه لوېږي، اوله بله اړخه موږ خپل مسلکي کدرونه ورته وروزو، ترڅو په راتلونکي کي له پردي مايحتياج څخه پرې خلاص شو .

**پايله :**

که چېرته د افغانستان دولت اوافغان بزګران اومالداران د شاتو توليداتوته زوروركړي له يوې خوا به يې خپل اقتصاد ور سره ښه اوزموږ بزګران او ملداران به په خپلو ښنو ودربېږي اوله بل پلوه به زموږ د خپلوکورنيوتوليداتوکچه په کمي اوکيفي لحاظ لوړه او زموږ اقتصادي برخي ته په ځانګړې او ملي سطح هم زياته ګټه ورسېږي . چي له دغه ډول کاري ودې سره به هم زموږ خلک په خپل کارو بارمصروف شي او هم به زموږ ملت او دولت دواړه د خود کفاکېدواو کورنيو صادراتوکچي ته ورلنډ شي .

ب : **په افغانستان کي د سپيني غوښي د توليد ا قتصادي وده :**

**دا مهال په تول هېواد كي (۱۲۲۰) د كب روزلواو( ۸۰۰۰) لوى او واړه د مرغدارۍ فارمونه شته ، دهرفارم له پاره (۶۰۰۰ ) لوى كبان او (۲۰۰۰) كوچيني كبان د خصوصي سكتورله پاره په پام كي نيول شوي . په (۲۰۰۵) زيږد يزكال كي د مرغدارۍ د فارمونو دغه كچه (۱۸۰۰) ته رسېدلي وه .د هلمند د مرغدارۍ ستره پروژه چي په يوه مياشت كي د (يومېليون) مرغانود توليد ظرفيت لري . موږ د مرغدارۍ (۲۰٪ ) وطني توليدات لرو ، چي (۸۰٪ ) يې له بهرڅخه ورته را وارد يږي .**



**افغانستان د کورنیوتولیدانوډېرې طبیعي اومصنوعي سرچینې لري اود کرنیزواومالدارۍ د ډولونوله پاره یومناسب بستردئ چې ځینې یې خپلسرې په نامنظمه غیرمسلکي اوغیرپلانیزه توګه ، ځینې یې د خصوصي سکتورله مخې په منظم ډول اوځینې نورې یې د دولتي سکتورله لارې د یوه لنډ مهاله ، منځمهاله اواوږد مهاله پلانونواوسترا تیژیوله مخې په کلاسیک اومکتبي شکل پرمخ وړل کېږي اوله دغوتولیداتوڅخه یوهم د سپینې غوښې تولید دئ چې د کبانواومرغدارۍ له فارمونوڅخه ترلاسه کېدای شي .**

**اوس به راشودېته چې آیا په افغانستان کې دغه ډول فارمونه جوړېدای شي اوزموږهېواد د کبانواومرغانود روزلوجوګه دئ که څنګه ؟**

**که چېرته دغه ډول فارمونوجوړولوته په افغانستان کې زمینه برابره وي د هغووجوهات به څه وي ؟**

**د یاد وپوښتنوځواب ښکاره او واضېح دئ .**

**لومړی :**

**کبان :ــ کبان هم د غذایي رژیم د مصؤونیت ، ودې او روغ مسلکي مدیریت له مخې لکه دنوروشتمنیوپه څېردځانګړې اوېتولنیزې اقتصادې ودې اوکارموندلوله پاره یوه ترتولوښه تولیدي چاره ده ، خو په دې شرط چې کبان د کبانو په فارمونوکې په مسلکي توګه سم وروزل شي . ځکه دکبانوروزلود فارمونوجوړولوله پاره له پخوا را هیسې (۳۳) لوی اوواړه له طبیعي خوړواوبوڅخه د ک بهېدونکي سیند ونه زموږ په هېواد کې وجود لري اوکبان هم همداسې سیند ونو ته نږدې فارمي د نډ ونو، آکسیجن ، خوراکي توکواود مستعملواوبوبدلولوته د کبانود ښه تکثر، تناسل او ودې له پاره اړتیا لري . (1)**

**خو فارمي کبان هم ډېرډولونه لري ، خینې کبان چې هډوکي نه لري اوغوښه یې خورا خوږه ده د آموسیند کې پیدا کېږي . ددغه ډول کبانوچې قزل آلا رنګین کمان نومېږي د فی کیلوګرام غوښې بیه له (۵۰۰) افغانیودرواخله تر(۷۰۰) افغانیو پورې ده چې د نورو عادي کبانود بیې دری برابره لوړه ده . (2)**

د فاریاب یواوسېدونکی غلام نبي وایي چي همدا اوس ددغه ډول کبانو (۷) دنډونه چي ددې ډول (۵۲۰۰۰) کبان پـه کې شته دخرڅلاو(۲۶) ټنه کبان لري چي مجموعي بیه یې (۱۸۲۰۰۰۰۰) افغانی کېږي .(3)

په کندهاراوننګرهارکي د کبانو(۷۵۰ ) فارمونه په (۲۱) ولایتونوکي د خصوصي سکتورله خوا جوړشوي دي . (4)

ددرونټې ، سروبي ، کجکي او کوکچې په بندونو کې نه یوازې دا چي بـه برېښنا تولیدولو یې ګټه ترلاسه کېږي ، پردې سر ببره کبانو ته هم په کي روزنه ورکول کیږي .

د فرانسي دولت د پنجشېرسیند لـه غاړې پـه ګلبهارسیمه کـې د ( ۲۵۰۰۰۰) ډالـرو پـه ارزښت د کبـانود روزنـي فـارم جوړکړ، دوه کاناډایي شرکتونه یې پرکانالونوجوړولو باندې لګیا دي ، کـه چېرتـه دغـه کانالونـه بشپړاوګټې اخیستنې تـه وسپارل شي په میلیونونو ډالربه له دې لارې افغانستان ترلاسه کړي . (5)

د کرهنې اومالدارۍ وزارت تېرکال (۵۰۰۰۰) کبان په سلما بند کې او (۲۰۰۰۰) کوچیني کبـان یـې د قرغـې د کبـانو پـه فارم کې خوشې کړل ، اوس مهال (۷۰۰۰) نسلي کبـان د هګیو اچولـو لـه پـاره تیـاردي . پـه دې وروستیوکلونوکي خو د کبانواومرغانو ( سپیني غوښي ) تولید په کورد ننه ډېرشوی ، ځکه خو د سپیني غوښي واردولـو تـه ډېره اړتیا نـه لیدل کیږي . (6)

د بلـخ د باغدارۍ او مالدارۍ د پروژې مسؤول فهیم جبـاري ویلـي چـي : د هر فـارم لـه پـاره (۶۰۰۰) لـوی ، (۲۰۰۰) کـوچیني کبـان او (۵۰۰) کیلـو ګرامـه غذایي مـواد ، اکسیجن اوجـال پـه پـام کـې نیـول شـوي ، خـو پرهرفـارم بانـدې ( نیم میلیون ) افغانی لګښت هم راځي .

یمـا راسـتا چـي پـه (۱۳۹۳ ) لمریـز کـال کـې د هلمنـد د (پرنـد ) د فـارم مسـؤول ؤ ویلـي چـي : پـه دې فـارم کـي مـوږ لـه (۴۰۰۰۰) څخه تر (۵۰۰۰۰) کرکان ( مرزان ) سـاتلي . کبـان ، مرغان او زرکـان هم پـه پـام کـې لـري ترڅوغوښـه یـې بازارته وراندې کړي . د کرهنې او مالدارۍ وزارت چاروکو ویلي : همدا اوس په هېـواد کـې تر(۸۰۰۰) ډېرد مرغدارۍ لوی او واړه فارمونه موجود دي ، په (۲۰۰۵ ) زیږدیزکال کي دغه کچه تر (۱۸۰۰) پورې رسېدلې وه .

لطف الله راشد د کرهنې او مالدارۍ وزارت ویاند ویلي چي : موږ دا فارمونـه ډېروو ترڅولـه پردیوهېوادوڅخـه د وارداتـي سپیني غوښي مخه پرې ډپ کړو.

اقتصادي کارپوهانو ویلي چي : افغانستان د غذایي مصؤونیت خونـدي کولوپـه برخـه کـې ډېـرې سـتونزې لـري او بایـد د غذایي موادو باکیفیته تولید یې پیاوړی شي .

**دوهم :**

**مرغان :ــ** څرنګه چي په افغانستان کې له پخوا راهیسې اهلي او وحشي مرغان شتون لـري اوتراوسـه پـورې د مرغـانو (۵۵۰) ډولونـه پېژنـدل شـوي . هیلـی ، کـوترې ، قـازې او نـورډول ډول آواز لرونـکي مرغـان د کابل پـه کـاه فروشـی کـې پخوانی مارکېټ او بازارلري . خو په هرات ، بامیانو، کابل او پروان ولایت کـې د مرغدارۍ ورومزرعو رواج مونـدلی ، دولت هم په کابل ژوبڼ کې د اهلي او وحشي مرغانوډېرې نموني لري . خوهغه افغانان چي په ایران کـې یـې زیـات وخـت تېرکړی اواوس بیا خپل هېواد تـه را سـتا نـه شـوي ، پـه ایرانـی طریقـه د مرغـانو روزنـه کـوي . ددغومرغانولـه پـاره لـه اطریش څخـه وسـائل راوړل کېږي.اوس پـه افغانسـتان کـې (۱۲۰۰۰۰۰۰) مرغـان شـتون لـري چـي لـه هغـو جملـې څخـه (۶۰۰۰۰۰۰) یې کورني مرغان دي .(7)

څرنګه چي سپینه غوښه له چرګانو، فیل مرغانو، مرزانو، شترمرغانواوکبانوڅخه ترلاسه کېدای شي استعمال اواړتیا یـې د غذایي ارزښت له مخې هم ځکه ډېره ده چي د مرغانودغوښي پـه هـرو (۱۰۰) ګرامـه غوښـه کـې (۱۹۰ ) کیلوکـالوري انرژي او (۸۹) ملي ګرامـه کلېسټرول شـتون لـري . تـر (۲۰۰۴ ) زیږدیـز کـال وروسـته افغانـان د مرغدارۍ لـه فرهنـګ

سره بلد شول چې دا مهال (٪۲۰ ) موږ په کور د ننه تولیدات لرو او (٪۸۰) نور لـه پاکستان ، ایران ، او برازیل څخـه را واردوو . (8)

د(HPP) په نوم دمرغدارۍ ترټولو ستره پروژه په هلمند ولایت کې د امریکې د متحده ایالاتود (USAID) پـه مرستوپه یـوه مياشـت کـې د (900000) مرغانوتولیـدولو پـه ظرفیـت جـوړه شـوې چـې تـردې مهالـه یـې پـه یـوه میاشـت کـې تر(۱۰۰۰۰۰۰) ډېرمرغان لولید کړي دي . خو ددغو مرغانو خوراک هم په یوه میاشت کې (۷۵۰ ) ټنه دئ . (9)

د کرهنې اومالدارۍ وزارت هم د امریکې د متحده ایالاتواونړیوال خوراکي سازمان د مرستوپرمټ یوه پروژه پیل کې ترڅود ښځوله پاره کار په کې پیدا او لـه خپلو کورنیو سره پـه اقتصادي برخـه کې مرسته وکړي . دغې پروژې هرې ښځې ته په ډېرى ولایتونو کې په وړیا توګه (۱۵) چرګان ورکړي دي ، ترڅود هګیو، چرګوړواوغوښوله پلورلوڅخه یې خپلوکورنیوته اقتصادي ګټه پرې ورسیږي .

سپین غر شرکت :

دغه شرکت (۱۲۰۰) غړي لري ، د فعالیت ساحه یې تر لغمـان ، جلال آباد او کونړونو پورې ده . دا شرکت پـه لغمـان اوجـلال آبـاد کـې (۸۵۰ ) ،او پـه کونړونـو کـې (۱۲۰ ) فارمونــه لــري چـې پـه یـوه میاشـت کـې (۱۰۰۰۰۰ ) چرګوړوتولیدولواو روزلو ته اړتیا لري ، خو فعلاً په جلال آباد کې (۲۰۰۰۰) چرګوړي تولیدیږي او پاتي نورلـه پاکستان څخه ورته واردوي . (10)

هیلۍ ( بتې ) : دا چې افغانستان (۳۳) لوی او واړه سیند ونـه لـري او زموږ هېواد وال کولی شـي د الله لـه دې خدای راکړي نعمت څخه ګټه پورته کړي د کبانو روزلوترڅنګ د هیلیو پـه روزنـه کې هم رغنده رول ولوبوي . ځکـه د هیلیو روزنـه  په افغانستان کې ښه وده کولی شي چې له غوښې اوهګیو دواړو څخه یې ګټه ترلاسه کېدای شي .

فیل مرغ : فیل مرغان عموماً په کورونوکې ساتل کیږي اوکوم ځانګړی فارم په افغانستان کې نه لري .

زانې : دا هم یو ډول مرغه دئ چې په هوا کې کتارونه جوړوي یومشرلري ، هرځای چې د اوبوډنډ ووینـي نولـومړی یـې مشرساحه کنترولوي او بیا نوروته په یو ځانګړي غږ سره د را ټیټېدو اشاره ورکوي ، خو ښکاریان هغوی پـه کمینونو کې ښکار کوي اوغوښې یې یا خپله خوري او یایې په بازارونو کې پلوري . ولې د روزنې کوم خاص فارم یې تراوسه پـه افغانستان کې نـه شته .

نورمرغان : په ډېری نورومرغانوکې د کورنیواو وحشي مرغانوټول ډولونه شامل دي .

ښه آوازلرونکي مرغان : په دې مرغانوکې (۵۵۰) ډولونه لیدل شوي چې (۲) ډوله یې ډېرکم او نـه دي پیژنـدل شـوي ، او (۱۷ ) نور یې نړیوال ، اوپاتې نـوریې پـه افغانستان اوګاونـډیوهېوادوکې شتون لـري . چې د (۳۰۰) ډولونوڅخـه یـې (۱۲۰) ډولونـه د ښه آوازلرونـکو په توګه  پیژندل شوي دي .

کـوترې : دغـه الوتـونکي مرغـان پـه افغانسـتان کـې (۳۰۰۰) کالـه وړانـدې موجـود وو . پـه دې کـوتروکې هـم اهلـي اوغیراهلي وجود لري . اهلي کوترې زیات ډولونه لري ، دغه الوتونکي اکثره په هغوځایونوکې ډېرې اوسیږي چې هلتـه د خلکو ګڼه ګونه ډېره اوخوراکي توکي موجود وي لکه زیارتونه . په اهلي کوترو کې داسې کوترې هم شته چې لـه یوه ځای څخه بل ځای ته لیکونه په مرموزه توګه وړي او راوړي . ددغه ډول کوترواستعمال آن د صلیبي جګړو لـه زمانې څخه شهرت لري چې کلابندوپوځیانوته به یې لیکونه وړل اوراوړل . ځکه دغه کوترې د (۱۸۰۰) کیلو متره فاصلې طی کولو قوت او وړتیا په ځان کې لري .

خو بل ډول یې غیراهلي کوترې دي چې خلک یې ښکار کوي او یوازې له غوښو څخه یې ګټه اخلي دغه ډول کوترې هم تر اوسه په افغانستان کې کوم ځانګړی د روزنې فارم نه لري ځکه خو یې غوښه کمه او یا هېڅ  نه پیدا کیږي .

**موخه :**

**داچي د سپيوغوښود توليد له پاره فارمونوجوړولو ته په افغانستان کي ولي اړتيا ليدل کي ، علت يې دادئ چي افغانستان د کبانو او مرغدارئ له پاره ترتولوښه مناسب ځای دئ ، افغانانو ته په عام ډول او د کرهنې او مانداری وزارت ته په خاص ډول لازمه ده چي له دي بسترڅخه په سمه اومسلکي توګه ، روغ مديريت اوپلانيزه طرحو سره د اوږدي مودي له پاره د سپيني غوښي په توليد کي د فارمونو زياتېدو له لاري د خود کفاء کېدواوآن د صادراتوترکچي پوري رغنده ګامونـه پورته کړي ، ځيل کورني توليد په کمي او کيفي لحاظ د بسيايني ترکچي لوړاوپه کورد ننه د خپلو خلکو اړتياوي پري پوره کړي ، ترڅو له يوي خوا ځپله اقتصادي وده وربانديلوړه کړي اولـه بل پلوه د پرديو بې کيفيته غوښود وارداتو مخه پري ونيسي .**

**پايله :**

**کله چي افغانستان د سپيني غوښي د توليد رغنده اصلاحي سيستمونه جوړکړي ځپلوخلکوتـه د هېواد والـود محسوسي اړتيا له مخي له کلېسترولو پاکه اوله انرژيواوپروتينوډ که با کيفيته غوښه په کورد ننـه د ځپلوکورنيوتوليدي محصولاتو لـه لاري ورسـوي ، دا بـه زموږهېوادوالوتـه پـه اقتصـادي لحـاظ هـم ارزانـه تمامـه شـي او زمـوږ پيسـي بـه پـرد يوبانکونواوجيبونوته نه لوېږي ، اوهم به په صحي لحاظ زموږ خلک له پرد يوهېوادوڅخه پـه وارد بـد ونکوغوښوکي د ډول ډول وارداتي ناروغيومخنيوی شوی وي او زموږ د هېواد والو روغتيا بـه موږ لـه دي لاري پخپلـه وقايـه او تضمين کړې وي . له بلي خوابه زموږ ځپل کورني توليدات د صادراتو له لاري د نړی بازارونوته لاروموميي اود سپيني غوښي توليدولوځپلي پروژې به پرې عصري او پياوړې کړو .**

**ادامه لري**

---

**اخذ ځايونه :**

1) **د کرهنې او مالداري چاروالي ( افتتاح (10)مرکز پرورش ماهي در ولايت بلخ .)**

2) **فارم لرونـکی غلام نبي فاريابي ( فهيم جباري مسؤول پروژه ملي باغداری و مالداری در زون شمال .)**

3) **فارم لرونـکی غلام نبی فاريابي ( ايجاد کننده (7) فارم ماهی .)**

4) **د کرهنـې او مالـداری وزارت (يمـا راسـتا يـکی از مسؤولين وزارت زراعت ومالـداري بـه راديـو آزادي گفتـه است . )**

5) **د کرهنې او ماداري وزارت ( يما راستا به راديو آزادي گفته است . )**

6) **د کرهنې او مالداری وزارت (فهيم جباري گفته است .)**

7) **( از دانش نامه آزاد ويکی پديا (ويرايش. )**

8) **( ازدانش نامه آزاد ، مرغداری ( ويرايش ) . )**

9) **( از دانش نامه آزاد ويکی پديا ( مرغداري ، گوشت پرندگان ، تشخيص گوشت تازه . )**

10) **لطف الله راشد سخنگوی وزارت زراعت و مالداری : ( پروژه های بزرگ مرغداري درافغانستان .)**

ځلورمه برخه :

## C – سوداګریزه ( تجارتی ) برخه :

تجارت اوسوداګري لـه معمول سره سم پـه ټولـه دنيا کې مروجـه ده . تـاريخي تجربو دا ښوولي ده چې راکړه ورکړه او تجارت د انسانانو تر منځ له پخوا را هيسې څکه يو معمول او مروج کاردی چې انسانان په هر ځای کي مصرف کوونکي او هيڅوک لـه ځانـه پوره نه دي . خو دغه مايحتياج له يوې سيمي او بلي سيمي ، له يوه هېواد ه او له بل هېواد ه په خپلو رغنده ډيپلوماتيکواړيکوکي پوره کوي .

ددي له پاره چې افغان تجاران په خپله موخه کې بريالی شي ، ورته لازمه ده چې مخکي لـه مخکي دخپل هېواد د ښته توليدي توکو ارزونـه وکړي . پرکميت ، کيفيت اوکورنيوارتيـاوواو ارزښت باندې يې ځـان پوه کړي ، يوه مرکز تـه د را ټونـدولو، پروسس او صـادرولو بندو بست يې وکړي ، وروسته هغودوستوهېوادوته د خپلوکورنيو توليد شووتوکوله سمپلونوسره يوځـای پـه کوم رسمي سفرکي ځانونه درج کړي چې زموږ دولت ورسره ډيپلوماتيکي اړيکي اوبهرته يې د صادرولو نيت لري .

کله چې مطلوبوهېوادو ته د تلو تا بيا ونيسي ، مخکي له ورتلوڅخه د هغه هېواد يا هېوا د و پرصـادراتو او وارداتو باندې يوه څغلنده رنـا واچـوي ، ترڅـودا ځانتـه معلومـه کـړي چـې هغـه هېـوا د کـوم څيزونـه را نيسـي اوکـوم شـيان پلـوري ؟ دوی د څـه ډول توکـو رانيولواوکومو توکو پلرلوته تياری ونيسي ؟

کوم وخت چې پردې باندې هم ځان ښه باوري کړي بيا ورتلونکوهېوادوته له قانوني لاروخپل سفرونه پيلوي . له ور رسېدو سره سم د هرهېوا د تجارتي خونو ته ورځي ، د خپل سفارت له لاري د اقتصادي را کړي ورکړي په ا ړه کنفرا نسونه دائروي اود خپلو توکو سمپلونه ننداري ته وړاندې کوي ، د هغوی د توکو ننداړتونونه او کوټېشن ( بيې ) ګوري .

کله چې جانبين د خپلومورد نظرتوکود پېراو پلورپه اړه توافق ته سره ورسېدل ، وروسته لـه هغـه پرس کنفرانس را وغواړي او پـه رسمي ښه يوله بل سره د توکو د پېراو پلورلـه پـاره د بيوکوټېشن اخلي اوبيـا د اړوندو توکو کيفيت اود اړتيا ورکميتونوقراردادونـه اولوظنامي يو له بل سره لاسليک کړي چې له مخي يې د قانوني لاري په سوادګريزو راکړو ورکړو کي آسا نتياوي پرې برابري شي .

د بېلګې په توګه :

زموږپه هېواد کي توليدات اولاسي صـنائع عبارت دي لـه : غلو دانـو، وچـو اوتـازه ميوو، ترکـاريو، زعفرانـو، شـاتو، کبـانو،اهلي او وحشي څارويو، ډول ډول مرغانو، قره قُل پوستکو، پيو، قروتو،وريو، غاليو، ټوکرانو ، لمڅيو، کمپلو، لاسي صـنائعو، قيمتـي ډبرو، ډبرو سکرو، مرمراو روخام ډبرو، بوري ، ګوري ،کيمياوي سري ، سمنټو او داسي نورو څخه چې ځيني يې موږ نـورو هېوادو تـه صادرولی شو او پاتي نور يې زموږ له پاره خپله بسنه نه کوي او مجبور يو له نورو هېوادو څخه خپل احتياجات پرې پوره کړو .

خو اوس بايد دا جوته شي چې آيا په ښته توکو کي کوم يې د افغانستان له پاره بسنه کوي اوکوم يې له نورو هېوادو څخه راوړل کېږي ؟ که چېرته له نورو هېوادو څخه زموږ د وارداتو کچه لوړه شي ، آيا دا زموږ په ګټه ده اوکه پـه تـاوان ؟ کـه چېرتـه د وارداتو زياتـه کچه زموږ په تاوان وي ، نو موږ بايد د خپلو کورنيو توليداتو کچه پـه کمي او کيفي لحـاظ د صـادراتو ترکچې پوري لوړه کړو . اوددي کارله پاره زموږپانګوالوته لازمه ده چې په کور د ننه خپلي پانګي د خصوصي سکټور له مخي په کارواچوي ترڅو د خود کفا کېدو تر کچي پري ورسېږو .

# 1: په افغانستان کې د سوداګرۍترسره کولومحتويات( ۲۰۱۷ )

**د نړيوال بانک ډلي دافغانستان پرسودا ګريزاقتصادي سيستم رغولو يو عمومي نظر وړاندې کړى چې په هغه کې دې ډلي د (۱۸۹) هېوادو سوداګريز محتويات د افغانستان له پنځو ولايتو نو سره پر تله کړي چې موږ يې غورچاڼ په لاندې ډول درنو لوستونکو ته وړاندې کوو :**

يادې ډلي ويلي چې : په(( افغنستان کې د سوداګرۍ ترسره کولو له پاره لومړى بايد پرڅو سيمو باندې يو راپورجوړشي . په ولايتي کچه په افغنستان کې د سوداګرۍ ترسره کولو د لړۍ دا لومړنى راپوردى چې په پنځو ولايتونو کې يې د سوداګرۍ مقررات او د هغوى پلى کول په ((۲۰۱۷ )) کال کې ارزولى دي .
ذکر شوي پنځه ولايتونه لومړى په خپلو منځوکې او ورپسې دا ولايتونه دنړى د ۱۸۹ هېوادوله اقتصادونو سره پرتله شوي.

## په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول په (۲۰۱۷) زيږديز کال کې :

د ټولو له پاره پوشان فرصتونه)) د شاخصونو اود کلني راپود تېر راپور په بنسټ ترسره کيږي .
په همدى ډول (( افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول د ۲۰۱۷)) زيږديزکال راپور شاخصونه د ۶۵هېوادونو د ۴۰۰ ځايونو د سيمه ييزې سوداګريزې څېړنې سره د پرتله کولو وړدي .ټول معلومات او راپورونه ددغه www.doingbusiness.org/subnational ويب سايټ له لارې د لاس رسي وړدي.

په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول هغه مقررات څيړي چې سوداګريزو کړنوته پراختيا ورکوي او يا يې محدودوي . اړونده مقررات په افغانستان کې د ولايتونو په کچه سوداګريزې کړنې په څلور برخوکې اندازه کوي، چې دغه څلور برخې عبارت دي له:

- د سوداګرۍ پيل ( د جواز اخيستل)، دوداني جواز، د بريښنا لين ترلاسه کول، اود ملکيتونو ثبتول .دغه شاخصونه لدى امله ټاکل شوي چې دغه شاخصونه سيمي اوکړني د پوښښ لاندې نيسي .دغه شاخصونه ددې لپاره کارول کيږي، ترڅو اقتصادي پايلې تحليل کړي او دا معلومه کړي چې کوم ډول اصلاحات بايد رامنځته شي او په کوم ځاى کې او ولې بايد رامنځته شي .هغه معلومات چې( افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷ ) کې شامل دي ،د ۲۰۱۶زيږديز کال د نوامبر لومړى نېټي کې خپاره شوى دي.

دغه پروژه د نړيوال بانک ډلي د نړيوال شاخصونو ډلي ( پرمختياييي اقتصاد )له خوا( افغنسان کې د پانګوني فضا ) پروګرام ديوې برخې په ډول پلي شوى دى.

# ځغلنده کتنه:

**اساسي موندني:**

□په افغانستان کې د متشبثينو له پاره د سوداګرۍ پيلولو سيمه دمقرراتو د هغو خندونو له کبله ارزښت لري، چې دوى ورسره مخ کيږي .

# د مقرراتو څرنګوالى او اغيزمنتوب په څلورو نښنه شويو ساحو کې :

اول : د سوداګرۍ پيلول، د ودانيزو چارو د جوازترلاسه کول، د برښنا ترلاسه کول او د ملکيت ثبتول -د هغوبيلابيلو تعبيرونو له کبله چې له قانوني مرجع نه په هرځاى کې کيږي او دهغو ادارو د اغيزمنتوب په پرتله چې د مقرراتو د پلي کولومسئوليت لري، په بيلابيلو سيمو کې توپيرکوي.په څلور واړو ساحو کې د مقرراتو د غوره پلي کيدو بيلګې په افغانستان کې موندلاى شو .
دوهم : اصلاح غوښتونکي پاليسي جوړوونکي کولاى شي د هغو معيارونو په کاپي کولو اوتکرارسره چې په برياليي ډول په هيواد کې پلي شوي، د پاملرنې وړ پرمختګونه رامنځته کړي.

درېیم : د ټولو هغو غوره عملي بیلګو په اقتباس سره چي په سیمه ایزه کچه موندل شوي دي، افغانستان کولای شي د مقرراتو د غوره پلي کولو پولو ته ډېر نږدې شي، او د 190 اقتصادونو په نړیواله رده بندۍ کي چي د سوداګرۍ لپاره یې بنې آسانتیاوې برابرې کړې دي، خپله ګام پورته کړي او له 183 مقام نه 172 ته لاړشي.

# 2 : په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول۲۰۱۷:

1- د 2016 کال په اکتوبر میاشت کي دافغانستان په هکله د بروکسل په کنفرانس کي افغان حکومت د پرځان بسیاینې، ملي سولې او پرمختګ کاري چوکاټ، پنځه کلن ستراتیژیک پلان وړاندې کړ، په کنفرانس کي دحاضرو 70 هیوادونو او 30نړیوالو سازمانونواستازو له افغانستان سره د راتلونکو څلوروکلونو لپاره په کال کې د 3.8 میلیارده امریکایي ډالرو پرمختیایي مرستو ژمنه وکړه.په داسې لوړه کچه دوامدار ملاتړد افغانستان د راتلونکي پرمختګ په هکله د نړیوالي ټولنې ترمنځ د لوړباورد شتون څرګندونه کوي.

دهمدې کال په لومړیوکې افغانستان په رسمي ډول د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ .د دې غړیتوب ګټې سرله اوسه محسوسي دي : کلني صادرات 570 میلیونه امریکایي ډالرو ته لوړ شوي چي له 2013 کال راهیسي 150میلیونه امریکایي ډالره لوړوالی ښیي.

2 - د هیواد له صنعتي سکتور نه هم ښه خبرونه راځي، چیرې چي وده د 2014 کال د% 2.4 نه په 2015 کال کي % 4.1ته لوړه شوې ده .افغانستان همداراز خپل مالي دریځ هم دعوایدو د په لاره اچولواود لګښتونو د کنترول اړوند مهمو پالیسیو په اصلاح سره، پیاوړی کړی دي .

له دې هڅونکو نښو سره سره، افغانستان تر اوسه هم د پرمختګ په برخه کي له سترووننګونو سره مخ دی .د هیواد ټولیزه اقتصادي وده چي له 2003 کال نه تر 2012 کال پورې په منځنۍ کچه 9.4 ٪ وه، په 2014 کال کې٪ 1.5او په 2015کال کې2 ٪ ته راټیټه شوېده .

3- د افغانستان سرې سر ناخالص ملي تولیدات ) GDP ( د نړۍ تر ټولو ټیټي کچي تولیداتو کي راځي . په اټکلي ډول په کال کي د3 ٪ نفوسو ودې او د ناخالصوملي تولیداتو د بطي ودې او مخ په خرابیدوامنیتي وضعیت په لرلو سره، په افغانستان کي بې وزلي مخ پر زیاتیدو ده.

4- سربیره پردې، په داسې حال کي چي افغانستان د نړۍ په کچه یو لوی مرسته اخیستونکی هیواد پاتې شوی دی، نړیوالي مرستې له 2012 کال راهیسې مخ په لږیدو دي .د افغانستان لپاره دا ډېره اړینه ده چي حکومت د اقتصادي ودې لپاره نوي سرچینې ولټوي تر څو د مرسته کوونکو د مخ پر لږیدو مرستو جبران وشي.په داسې حال کي چي افغانستان هڅه کوي پر بهرنیو مرستو له اتکا څخه ځان وباسي،د خصوصي سکتور پرمختګ ورته یوستراتیژیک لومړیتوب بلل کیږي .د افغانستان خصوصي سکتور فعالیتونه تراوسه هم ډیرمحدود دي :د کاري ځواک برخه پکې تر 50 ٪ښکته ده، خصوصي سکتور ته د کورني بسپنې کچه د ناخالصو کورنیو تولیداتو
GDPیواځې4 ٪ ده ) د کم عایده هیوادونود GDP د 28 ٪ منځنۍ کچي نه هم ډېره ښکته ده (او ناخالصه کورنۍ خصوصي پانګونه د
GDPیواځې 5.9 ٪ جوړوي.

5 .د خصوصي سکتور ستونزو ته پاملرنه به په اوږدې مودې کي د دوامداره ودې لپاره اړینه وي -له دې سره بیا د سیاسي ستونزو، امنیتي تشویشونو او پراخ فساد کمښت او د ماهروکارګرو د کموالي ستونزو ته هم پام پکاردی.
په ځګړو اوتاوتریخوالي ځپلوهیوادونوکي سوداګري کول آسان کارنه دی .جګړه په ځانګړي ډول په رسمي خصوصي سکتوربانډې چټک اغیزکوي .د تاوتریخوالي او کړوالی په پایله کي انساني پانګه ورکیږي .زیربناوې او موسسات له منځه ځي او مالي سرچینو ته لاسرسی ستونزمن کیږي .سره له دې، ډیرجګړه ځپلي او ماتیدونکي هیوادونه په دې توانیدلي چي خپل د سوداګرۍ چاپیریال دمقرراتو په یو شمیر ساحو کي ډیر ښه کړي( په تیرې یوې لسیزې کي د نویوسوداګریو د راتګ، خوندي معاملاتو او دمالیاتي قواعدو پام کي نیولو برخو کي ډیرښه والی راغلی دی.

د افغانستان حکومت چي د اقتصادي پرمختګ په برخه کې د پانګوني د چاپيرياڵ د ښه کولو په ارزښت باندې خبردی، د خصوصي سکتور پرمختګ ته يې د خپلو هغو نويو ملي پروګرامونو په لومړيتوبونو کې ځای ورکړی دی چې د 2016 کال په اکتوبرکې د افغانستان په هکله د بروکسل په کنفرانس کې وړاندې شول .

6- د سوداګرۍ د مقرراتي چاپېرياڵ د ښه کولو په موخه يوشمير مهم نوښتونه وار له مخه پيل شوي دي.(د سوداګرۍ د مقرراتو اصلاحات د داسي يوچاپيرياڵ په رامنځته کولو کې مرسته کوي چې د خصوصي سکتور د ودې هڅوونکی وي او مستقيمه بهرنی پانګونه راجلب کړي د اصلاحاتو په پايله کې د ملکيتونو لپاره ښه تنظيم شوی بازارمنځته راځي، د رسمي سوداګرۍ لپاره د جواز اخيستلو پراوونه ساده کيږي او همداراز د برښنا او د ودانيزو چارود جواز ترلاسه کولو پروسي اغيزمني او رڼې
کيږي .
7- د مقرراتو په پلي کوونکو بنسټونو کې اصلاحات ، روڼتيا ، مسلکيتوب او د پيرودونکوخدمتونو په برخو کې ښه والی راوستلای شي- دا ټول د حکومت د مشروعيت په پياوړتيا کې کليدي ارزښت لري .د فساد د کچې ټيټوالی د مقرراتو له اغيزمنتوب او ښه کيفيت سره تړلی د سوداګرۍ کولو څېرنه د سوداګرۍ مقررات د کوچنيو او منځنی کچې کورنيو شرکتونو د ليدلوريو پر بنسټ مطالعه کوي .د سوداګرۍ کولو څېرنه يوه بنسټيزه فرضيه دا ده چې.

## د سړي سرله مخې ناخالصه کورني توليد( دالر) د ناخالصه کورني توليد حقيقي وده( ٪)

**د سړي سرله مخې ناخالصه**
**کورني توليد ( ډالر)**
**د ناخالصه کورني توليد**
**حقيقي وده( ٪)**
**څلنده کتنه3**
**ډير عايد**
**کم عايد**
اقتصادي فعاليت له ښو قوانينو او ادارونه ګټه ترلاسه کوي .په دې کې هغه قوانين شامل دي چې د ملکيت حقوق روښانه اوثابتوي، د اقتصادي تعامل وړاندوينه ډيروي او د تړون ګډونوال د ناوړې ګټې اخيستنې پروړاندې په اساسي ډول خوندي کوي.

موخه داده چې :روښانه مقررات ددې لپاره جوړيږي چې اغيزمن، ټولو ته دلاسرسي وړاو په آسانی پلې کيدونکي وي.په تيرې يوې لسيزې کې افغانستان په هغو ينځه ساحو کې چې د سوداګرۍ کولوڅيرنې لخوا اندازه شوې دي، مقرراتي اصلاحات پلي کړي دي -ډير د پام وړاصلاحات د سوداګرۍ د پيلولو په برخه کې پلي شوي چې افغانستان د سوداګرۍ کولوڅيرنې د 2017 کال په نړيوالې رده بندی کې

**(( په تيرې يوې لسيزې کې افغانستان په**
**هغو پنځه ساحو کې چې د سوداګرۍ کولو**
**څيرنې لخوا اندازه شوې دي، مقرراتي**
**اصلاحات پلي کړي دي -ډير د پام وړ**
**اصلاحات د سوداګرۍ د پيلولو په برخه**
**کې پلي شوي چې افغانستان د سوداګرۍ**
**ډيټابيس د 2017 کال په نړيوالې رده بندۍ**
**کې په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په**
**منځ کې 42 مقام خپل کړی دی.))**

## د فساد د کچې ټيټوالی د مقرراتو له اغيزمنتوب او ښه کيفيت سره تړلی دی:

**د فساد د شتون د شاخص نومره)0 - 100 ( له سرحدي نومرې يې فاصله)0 - 100 ( له 2005 نه تر 2016 پورې د اصلاحاتو شمیر ،**

**په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ، ۲۰۱۷:**
**په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په منځ کې افغانستان 24 مقام خپل کړی دی .همداراز د پوراخیستلو په برخه کې یې په همدې لیست کې 101 مقام ترلاسه کړی دی.**

**8- تراوسه هم لا ډیرنورکارته اړتیا شته .د سوداګرۍ کولو څیړنې لخوا په اندازه شویو ساحوکې افغانستان لا هم د جګړه ځپلو هیوادونوله پاره د ټاکل شوې منځنۍ کچې په پرتله له لسو نه په اتو ساحو کې ښه اجراآت نلري.**

**د سوداګرۍ کولو څیړنې په کلنې راپور کې چې د نړۍ 190 اقتصادونه یې سره پرتله کړي دي، د افغانستان استازیتوب کابل کوي، چې پلازمینه تر ټولو لوی سوداګریزمرکز ګڼل کیږي او دهیواد 11 ٪ نفوس هم پکې میشت دی .**

**9- خو کابل ټوله کیسه نه کوي .هغه متشبثین چې د افغانستان په بیلابیلو برخو کې فعالیت کوي، له بیلابیلوسیمه ایزو مقرراتي کړنو سره مخ کیږي .د 2017 کال سوداګرۍ کولو څیړنه،په هیواد کې دسوداګرۍ لومړنی نړیواله څیړنه دی چې په سیمه ایزه( ولایتي )کچه مطالعه ترسره کوي او څلور نور ولایتونه:**
**بلخ، هرات، کندهار او ننګرهار هم ارزوي،کوم چې د افغانستان تر ټولو لوی سوداګریز**
**ښارونه دي . مزارشریف، هرات، کندهار او جلال**
**آباد پکې واقع دي.**

**ددې څیړنې موخه دا ده چې په افغانستان کې د سوداګرۍ د مقرراتو د چاپیریال په هکله پراخ معلومات حاصل شي او همدارازد ښو مقرراتو بیلګې او د اصلاحاتو په موخه سپارښتنې وړاندې شي ترڅو په ملي اوولایتي کچه د راتلونکو پالیسیو د ښه والي لپاره مرسته وکړي .ددې څیړنې تمرکز د هغو شاخصونو پرټولکو دی چې د مقرراتي پروسو ستونزمنوالی او لګښتونه اندازه کوي، کوم چې د کوچنیو او منځنۍ کچې کورنیو شرکتونو د منځته راتګ او فعالیت څلور پړاوونه اغیزمنوي -د سوداګرۍ پیلول کسب او کار)، د ودانیز جواز ترلاسه کول،د برښنا ترلاسه کول او د ملکیت ثبتول .**

## په افغانستان کې د سوداګرۍ د مقرراتو د چاپیریال د ښه والي لپاره وروستي نوښتونه:

**په 2016 کال کې افغان چارواکو په هیواد کې د سوداګرۍ د آسانه کولو پرلور مهم ګامونه واخیستل .ددوی د تمرکز یوه ساحه د سوداګرۍ د پیل پروسه وه .پخوا، د سوداګرۍ دوه جوازونه وو :یو د وارداتو او صادراتو لپاره ؤ چې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت لخوا ورکول کیده او بل د غیر سوداګریزو فعالیتونو لپاره ؤ چې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ ادارې( آیسا )لخوا ورکول کیده .په عمل کې، ډیر شرکتونه دېته اړ وو چې د خپلو فعالیتونو لپاره دواړه جوازونه ترلاسه کړي .**

**د جوازونو نوي سیستم ته د عبور پروسه، چې سوداګر ته به یوازې یوسوداګریز جواز ورکول کیږي، د 2016 کال په وروستیو کې په کابل کې پیل شوه .دا بدلونونه په تدریجي ډول له پلازمېنې بهر نورو ولایتونوته هم خپاره شول.**

**نوی جواز د درې کلونو لپاره اعتبار لري .دا بدلونونه ټولو سیمه ایزو شرکتونو ته ګټور دي خو په ځانګړې ډول هغو شرکتونو ته ډیره ګټه لري چې له کابل نه بهر فعالیت کوي او پخوا دې ته اړ وو چې خپل جوازونه تر زاړه سیستم لاندې هر کال نوي کړي( د نورو جزئیاتو لپاره د سوداګرۍ د پیل کولو څېرکی وګورئ.)**

**د جوازونو د ورکړې نوی سیستم کولای شي د سوداګرۍ د پیل پروسه چټکه او آسانه کړي -که څه هم چې لګښت یې ډیر دی .په بیلابیلوسیمو کې د مقرراتي بدلونونو د پلي کولو پروسه ډیرې ننګوني هم لري .کله چې یې پلي کول بشپړ شي، دا به شوني وي چې ددې بدلونونوټوله اغیزه وارزول شي.**

**د ودانيز جواز ترلاسه کولو پروسې د بهبود په برخه کې هم هڅې شوې دي .په دې ساحه کې د وروستيو بدلونونو تمرکز پر کابل ؤ.**
**د معياري عملياتي کړنلارو د يوې عصري ټولګې او رسمي زماني محدوديتونو په درلودلو سره، يو نوی مقرراتي کاري چوکاټ معرفي شو .يو "واحد مرکز "چې د ښاروالۍ بيلابيل دفترونه ټول يکې په يوځای راټول وي جوړ او ورسره پرليکه( د انټرنيټ په مټ )خدمتونه هم چمتو شول . په دې نوښت کې په کابل ښاروالۍ کې 75 تخنيکي کارکوونکو ته روزنه او د پوهاوي يو کمپاين چې د موخې کسان يې د ودانيزو چارو کارکوونکي او نور برخه وال وو، شامل و.**

**ددې نوښت تمرکز پر استوګنيزو او لوړپوړو ودانيو ؤ .راتلونکی ګام به کيدای شي دا وي چې پروسه، د کوچنيو سوداګريزو ودانيو په ګډون**
**چې يوه بيلګه يې د سوداګرۍ د پيل په موردي مطالعې کې هم شته، د هر ډول ودانيو لپاره ډيره اغيزمنه کړای شي او همداراز د ساختماني جواز لګښت لږ کړای شي( د نورو جزئياتو لپاره د ودانيز جواز اړوندو مسايلو ځيرکی وګورئ.)**
**اوتوما ت کول ساده کول په کابل کې د ساختماني جواز د ورکړې په پروسه کې وروستي اصلاحات ډک معپاايمهن پوهاوي ظرفيت جوړونه دچموڤر کار ات ټو کاري**

**څغلنده کتنه5**
**د شاخصونو څلور ټولګي ځکه غوره شوي وي چې د سوداګريزو مقرراتو هغه ساحې تر پوښښ لاندې راولي چې د معمول حقوقي او مقرراتي کاري چوکاټ پلي کول يکې په بيلابيلو سيمو کې بيلابيلې بڼې لري -ځکه چې له قانون نه تعبيرونه اود مقرراتو د پلي کوونکو ادارو سرچينې او اغيزمنتوب په بيلابيلو سيمو کې سره توپير کوي .په داسې حال کې چې اړوند خورا متمرکز وزارتونه په ولايتونو کې د ډيری خدمتونو د رسولومستقيم واک او مسؤليت لري، په دې منځ کې ددې سيستم څنډ د ولايتونو واليان دي چې د خدمتونو د رسولو په برخه کې لږ رسمي مسؤليت لري خو ډير سيمه ايز ځواک او واک ورسره دی .**
**دا راپور همداراز د جندر بعد هم په پام کې نيولی چې» د سوداګرۍ د پيل کولو « او» ملکيت ثبتولو « شاخصونه يکې شامل دي، کوم چې د جندر له پلوه توپيرلرونکي کړنې هم يکې ارزوي.د دې څيړنې لپاره معلومات د اړوندوقوانينو، مقرراتو، فرمانونو او د فيسونودجدولونو او همداراز بو پوښتنليک ته په ټول هيواد کې د خصوصي سکتور تر سلو ډيروکارپوهانو د ځوابونو له لارې راټول شوي دي .**

**د پوښتنليک په ځواب ويونکو کې حقوق پوهان، معماران، انجينران، ودانيز شرکتونه،مسلکي اتحاديې او نور هغه کسان شامل وو چې په څيړنه کې اندازه شويو ساحواړوندو مقرراتو په برخه کې يې شرکتونوسره کار کاوه او يايې ورته مشورې ورکولې.د حکومت د بيلابيلو کچو مسئولينو هم دمعلوماتو په برابرولو کې برخه اخيستې ده.معلومات د 2016 کال نومبر مياشتې نه راپديخوا راټول شوي دي .**

## موندنې کومې دي؟

**په افغانستان کې د سوداګرۍ کولو څيړنې د 2017 کال راپور په هيواد کې د سوداګرۍچاپيريال ټول اړخونه نه دي ارزولي کوم چې ښايي شرکتونو او پانګوونکو ته ارزښتولري -د بيلګې په توګه د لوی اقتصاد ثبات،د بازار اندازه، د مالي سيستم وضعيت .**

**له سوداګرۍ کولو څيړنې د شاخصون پربنسټ د جنګ ځپلو او ماتيدونکو هيوادونو د اجراآتو له منځنۍ کچې سره د افغانستان پر تله کول .**

**سرچينه :د سوداګرۍ کولو څيړنې ډيتابيس**

یادښت :د نړیوال بانک د تعریف پربنسټ پـه 2017 مـالي کـال کـې د 34 جنـګ ځپلـو او ماتیدونـکو هیوادونـو معلومـات ښیـي .
د سوداګرۍ کولو ځیرني په افغانستان کې پر کابل سربیره ځلور نور ولایتونـه:

# په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ، ۲۰۱۷:

د انساني سرمایي څرنګوالی .د شاخصونوتمرکز پر هغو ساحو دی چې په کوچنیو اومنځنیو تشبثاتو پورې اړه لري او ولایتي او دښاروالی مسؤلین یکي پراخه ونډه لري .

پایلې دا ښیي چې په افغانستان کې د سوداګرۍپه مقرراتو او د هغوی په پلي کولو کې دولایتونـو پـه کچـه ډیر توپیرونـه لیدل کیږي.کابل په دوه ساحو، د سوداګرۍ پیلولو اود برښنا ترلاسه کولو، کې تر نورو ولایتونوډیر وړاندې دی.

خو کابل بیا دودانیز جواز اخیستلو او د ملکیت ثبتولو په برخو کې په هغه کچه ښه نه دی .په پلازمینه کې د چټکې ودې له کبله، کابل د ساختماني جوازونو او د ملکیتونو د انتقال په برخوکې د غوښتنلیکونو له لوړې شمیرې سره مخ دی.

وارلـه مخـه یوشمیر ګامونـه اخیستل شوي دي چې د وروسته پـاتي کـارونو حجم را کم کړي .د ساختماني جوازونـو د ورکړې په برخه کې په کابل ښاروالی کې یو ګډ مرکز ( One-Stop Shop ) جوړشوی او یوه آزمایښتي پروژه د پلي کیدو په حال کې ده چې د ملکیتونو ثبت لـه حقوقي پروسې نـه چې د محـاکمو پـه واسطه ترسره کیږي یوې اداري پروسې ته را واړوي.

کندهار د ودانیز جواز د ورکړې او د ملکیتونود ثبت په برخو کې په لومړي مقام کې دی.بلخ( مزارشریف )پـه هیڅ یـوې اندازه شوې ساحې کي لومړی مقام ندی خپل کړی خو په ځلوروارو ساحو کې دویم مقام لري .بلخ په وروستیو کلونو کې د نسبي امنیت نـه په ګټې اخیستنې ددې جوګه شوی چې تر ځیرنې لاندې ځلوروارو ساحو کې ښو کړنو ته وده ورکړي .

بلخ همدراز د پنځو ولایتونو په منځکې د ښځو له اقتصادي مشارکت نه په لوړه کچه ګټه ترلاسه کړې ده .
هرات او ننګرهار( جلال آباد)، د پنځوولایتونو ترمنځ د بې وزلې ترټولو لوړې کچې لرلوسره، د نورو په ځیر ښې کړنـې نـه لري.
دا ولایتونه یواځنې دوه ولایتونـه دي چې په هیڅ یوې اندازه شوې ساحې کې پـه لـومړي یـا دویـم مقـام کـې ځـای نلـري.د ځیرنې پایلو ته په ځیر کتو سره موږ ګڼ ځیزونـه یکي لیدلای شـو .لـومړی دا چې، پـه بیلابیلـو ځـایونو کـې پـه کړنـو کـې توپیرونـه لیدل کیږي .

د بیلګې په توګه د ساختماني جوازونوپـه هکلـه کنـدهار لـه سرحدي نـومرې نـه39.29 واټـن لـري خـو کـابل بیـا یـواځې 22.39 نږدې نومرې.

په همدې ډول د ملکیتونو دثبت په برخه کې کندهار له سرحدي نومرې نه 40.31 نومرې واټن لري، چې له بنګله دیش ( 27.58 (نه وړاندې دی، په داسې حال کې چې کابل ( 27.50 ( او هرات ( 24.17 ( په دې برخه کې د جنوبي آسیا هیوادونو په کچه تر ټولو کمزوره کړنې( فعالیتونـه )لري.

دا تشې( خلاوی )په ډاګه کوي چې داسې ډیرمهم درسونه شته چې د افغانستان ولایتونـه یې باید یوله بل نـه زده کړي.

دویم دا چې، د سوداګرۍ د پیلولو او برښنا ترلاسه کولو په برخو کې د کابل لوړ مقام د هغو اصلاحاتو منعکسوونکی دی چې یواځې په پلازمینه کې پلي شوي دي .ټول افغانستان ته ددې اصلاحاتو پراخول به متشبثینو ته پـه نـورو ولایتونـو او لویو ښارونو کې هم ګټه ورسوي .په دې برخو کې د کابل لوړ مقام ګټل همدراز دا منعکس کوی چې افغانستان ډیر متمرکز اداري سیستم لري.

هغه متشبثین چې ځيني مقرراتي پروسې په نورو ولايتونو کې بشپړوي دې ته اړ دي چې په کابل کې له مرکزي چارواکو نه اجازه ترلاسه کړي -د بیلګې په توګه د برښنا دنوي مزي ترلاسه کولو لپاره .داسې کارونه پراوونه ډیروي، ځنډ رامنځته کوي او د سوداګرۍ د پیلولولپاره لګښتونه لوړوي.

دمقرراتو په هغو ساحو کې چې په سیمه ایزه کچه پکې خپلواکي شته، په نورو ولايتونو کې سيمه ايزه ادارو د ښو کړنو، مودې لنډولو، اود لګښت او بیروکراتیکو پروسو د ستونزمنتیا کمولو په برخو کې ښې بیلګې وړاندې کړې دي.

دربیمه داچې، په داسې حال کې چې دافغانستان پنځو ولايتونو د سوداګرۍ د پيلولو په برخه کې د ښو نړيوالو کړنو او تجربو پر لور ډیر پرمختګ کړی دی، همداولایتونه بیا د ساختماني جوازونو اخیستلو،برښنا ترلاسه کولو او ملکیت ثبتولو په برخوکې تر نورو ډیرو اقتصادونو( هیوادونو)شاته پاتې دي .له سرحدي نومرې نه دواړن پرتله ددې حالت یو ښه انځور وړاندېکوي .د سوداګرۍ د پيل له پاره، ولايتونو په
د )ښار( ولايت
DTF د مقام نومره DTF د ثبتول ملکیت د کول ترلاسه برېښنا د کول ترلاسه جواز ودانيز د پیلول سوداګرۍ
مقام نومره DTF د مقام نومره DTF د مقام نومره

سرچينه :د سوداګرۍ کولو ځيرنې ډیتابیس :

د لا ډیرو معلوماتو لپاره د سوداګرۍ کول په 2017 کال کې:

د سوداګرۍ د پيلولو او برښنا ترلاسه
کولو په برخو کې د کابل لوړ مقام د
هغو اصلاحاتو منعکسوونکی دی چې
یواځې په پلازمینه کې پلې شوي دي.
ټول افغانستان ته ددې اصلاحاتو
پراخول به متشبثینو ته په نورو
ولايتونو او لويو ښارونو کې هم ګټه
ورسوي.

ځغلنده کتنه :

په افغانستان کې د سیمه ئیزې حکومتولۍ کاري چوکاټ :

د افغانستان دولتي سکتور خورا متمرکز دی .مرکزي اداره له شاوخوا 54 حکومتي واحدونو جوړه شوې ده – چې په دې واحدونو کې وزارتونه،ریاستونه، ادارې او خپلواک ریاستونه راځي .د مرکزي حکومت وزارتونه او ادارې لومړني بودجوي واحدونه ګڼل کیږي .

د افغانستان 34 ولايتونه،چې د نفوسو له مخې له یو بل سره پراخ توپیرونه لري، بودجوي واحدونه نه دي .د ولايتونو په کچه خدمتونه د اړوندو وزارتونو، ادارو او د ولايتي ادارې واحدونو لخوا وړاندې کیږي.

ولايتي ادارې په ټولیزه توګه محدود ظرفيت او کارکوونکي لري او ډیر ځله ددوی او نورو دولتي ادارو ترمنځ د دندو او مسئولیتونو په برخه کې تداخل منځته راځي، د بیلګې په توګه د واليانو( چې د افغانستان د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي)، اړوندو وزارتونو او ولايتي شورا ګانو( چې په مستقیم ډول دخلکو لخوا ټاکل کیږي )ترمنځ .

ولايتي شوراګانې د واليانو او په ولايتونو کې د وزارتونو اړوند رياستونو پر کړنو یواځې په محدوده کچه څارنه کوي.

په 2016 کال کې د مالیې وزارت د ولایتي بودجو پالیسي جوړه کړه -چې اوس د وزیرانو شورا لخوا هم تائید شوې ده - چې کولای شي د بودجې په پلان جوړونه او پلي کولو کې د ریاستونو او ولایتي ادارو رول ډیر لوړ کړي.

په ولایتونو کې د اړوندو وزارتونو د ریاستونو او والیانو ترمنځ د واکونوپه برخه کې د تداخل په هکله د ابهاماتو حل به د سیمه ایزې حکومتولی کاري چوکاټ روښانه کړي او د دولتي سکتور مشروعیت او حساب ورکونه به پیاوړې کړي.

خو، دغه هڅې چې د خدمتونو رسولو کارونه په ولایتي کچه ترسره شي، دې ته اړتیا لري چې د روڼتیا( شفافیت )اصل ته او همدارازپه ولایتي کچه د خدمتونو رسولولپاره ظرفیتونو ته پکې پاملرنه وشي.

د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره) IDLG ( ، چې د وخت د ولسمشر په فرمان د 2007 کال په اګست کې جوړه شوه، د حکومتي ادارو ترمنځ ، چې د ولایت، ولسوالۍ، کلي او ښاروالۍ اداري پکې راځي، د اړیکو د ټول سیستم مسئولیت لري .د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې په دننه کې د ښاروالیو چارو عمومي ریاست د ښاروالیو د چارو د مدیریت مسئولیت لري .

ښاروالۍ د اساسي قانون له مخې د سیمه ایزو حکومتونو د واحدونوپه توګه پیژندل شوې دي، چې د ښاري چارو د تنظیم لپاره منځته راغلي، او له همدې کبله خپله ځانګړې بودجه لري .

دوی تر ډیره پرځان بسیاواحدونه دي چې په سیمه ایزه کچه د عوایدو راټولولو له لارې خپل ښاري خدمتونه تمویل او وړاندې کوي .

خو دوی د مخ پرودې ښاري نفوس لپاره د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ظرفیتونو له محدودیت سره مخ کیږي . ښاروالان په مرکزکي ټاکل کیږي او بودجې يې په مرکز کې تصویب کیږي .

د کابل ښاروالي یو ځانګړی حقوقي او سیاسي حالت لري :د سیمه ایزو ارګانونو له خپلواکې ادارې نه بیله او خپلواکه ده او په مستقیم ډول د ولسمشردفتر ته راپور ورکوي.

د افغانستان پنځه ولایتونه له نړیوال اوسط نه، د سوداګرۍ پیلولوله ساحې پرته، په نورو ټولو ساحوکې شاته پاتې دي .
سرچینه :د سوداګرۍ کولوڅیړنې ډیټابیس:

د سوداګرۍ پیلول .
د ساختماني جوازونو اخیستل.
د برېښنا ترلاسه کول.
د ملکیت ثبتول .

# په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ،۲۰۱۷

اوسط ډول 87.27 نومره خپله کړې ده چې له نړیوال اوسط (82.28) نه ډیره ښه ده.خو په دې نورو اندازه شویو ساحو کې دافغانستان اوسط نومره له نړیوال اوسط نه لږ ترلږه 23 نومرې ټیټه ده . له همدې کبله افغانستان باید د نورو اقتصاد لرونکوهیوادونو )له ښو تجربو نه په کاپي کولواو ګټې اخیستنې سره ځان د ساختماني جوازونو، برېښنا ترلاسه کولو او ملکیت ثبتولو په برخو کې له نړیوالو معیارونو سره برابر کړي.

راتلونکي لار:

د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د سوداګرۍ د آسانه کولو په هکله د پرتلیزو معلوماتوخپرول کولای شي چې د مقرراتو اصلاحات ګړندي کړي -ځکه چې د سیمه ایزو ادارولپاره دا ډیره ګرانه ده چې هغه مقرراتي کړن وپیژني چې ددوی په سیمه کې د ګاونډیوسیمو په پرتله د سوداګرۍ کول ستونزمنوي.سربیره پردې ، په ملي کچه د یوشان حقوقي او مقرراتي کاري چوکاټ لرل دا ډیر آسانه کوي چې د نورو ځایونو ښې کړنې کاپي کړای شي .حتی کوچني اداري اصلاحات،چې سترو مقرراتي بدلونونو ته اړتیا هم نلري، کولای شي د کوچنیو یا منځنۍکچې شرکتونو لپاره سترې آسانتیاوې رامنځته کړي .دا ځیرنه په هره ساحه کې اوهمداراز په سیمه ایزه اونړیواله کچه ځانګړي فرصتونه راپیژني .

سربیره پردې، ځینې مشترکې مسئلې هم راڅرګندیږي، د بیلګې په توګه په ولایتي کچه د اداراتو محدود واکونه، زاړه قانوني کاري چوکاټونه او د روڼوالي نشتوالی.

## مشترکې مسئلې :

لومړنۍ مهمه اړتیا په سیمه ایزه( ولایتي)کچه د دولتي سکتور د مشروعیت، حساب ورکونې او ظرفیت پیاوړي کول دي. دااداراتو د دندو ترمنځ د تداخل له منځه وړلواو د هغوی د مبهمو رولونو او مسئولیتونوروښانتیا ته اړتیا لیدل کیږي او همداراز باید د اړوندو وزارتونو او والیانو ترمنځ د واکونود تداخل په برخه کې ابهام له منځه لاړ شي.د شرکتونو له اوږو د مقرراتو د درونډ بارلرې کولو لپاره د سیمه ایزو واحدونو دظرفیتونو لوړولو ته اړتیا ده چې وکولای شي د سوداګریزو مقرراتو اړوند خدمتونه په ښه توګه وړاندې او د حکومت او اداراتود بیلابیلو سطوحو ترمنځ همغږي رامنځته کړي .دا کاربه همداراز له پلازمینې بهر داصلاحاتو پلي کیدو ته لار هواره کړي.

## 2014 کال کې د افغان حکومت لخوا د لندن په کنفرانس کې د" دځان بسیاینې په لور:

د اصلاحاتو او نوي مشارکت لپاره ژمنې"تر سرلیک لاندې یو سند وړاندې شو چې په سیمه ایزه کچه د کافي اداراتو د منځته راوړلو او خدمتونو رسولو پر ارزښت پکې ټینګار شوی ؤ .پیاوړي سیمه ایزه اداري کولای شي په ولایتونو کې د حکومتولۍاغیزمنتوب لوړ او ورسره هم مهاله د کابل له سرچینو نه، چیرته چې ډیرې بیروکراتیکې پروسې متمرکزې دي، په آسانۍ ګټه واخلي.له کابل پرته، د بیلګې په توګه، د ودانیزجوازونو په ورکړه کې د ښاروالۍ رول دښاري پراختیا وزارت له ولایتي څانګې سره تداخل لري .په همدې ډول، په ولایتونو کې دبرښنا د مزي د ترلاسه کولو لپاره متشبثین اړ دي چې د برښنا خدمتونو په ولایتي څانګې او همداراز په کابل کې د برښنا په ریاست کې اړوند اداري پړاوونه بشپړ کړي.

د بلخ( مزارشریف )او ننګرهار( جلال آباد)تجربې دا ښیي چې د برښنا خدمتونو په څانګه کې د داخلي پروسو اصلاحات ددې لامل شوي چې د برښنا مزي د ترلاسه کولوپه کار کې لږ وخت ولګیږي او اړوند تائیدي امرونه پلازمینې کابل ته له سفر پرته ترلاسه شي.

بله مشترکه مسئله د قانوني کاري چوکاټونونوي کول دي .د بیلګې په توګه د ودانیو(ساختمانونو )په اړه مقررات زاړه او خواره واره دي چې عامه خوندیتوب له جدي خطرونو سره مخامخ کوي .

په ساختماني صنعت کې د خوندیتوب د بهبود لپاره د کابل ښاروالۍ په دې وروستیو کې یوه مقرره جوړه کړې ده چې د هستوګنې سرټیفیکیټونه معرفي کوي چې هغه د نوې جوړې شوې ودانۍ لپاره له ښاروالۍ نه د وروستي تائید ترلاسه کولو په اړه رولونه او اړتیاوې ځانګړې کوي .

دې ته ورته سیمه ایز نوښتونه کیدای شي په یو ملي ساختماني قانون بدل شي.

په افغانستان کې د ملکیتونو ثبت د محاکموله لارې ترسره کیږي خو که دا پروسه په یوې اداري پروسې بدله شي، هم به دقاضیانو او هم د متشبثینو د وخت له ضایع کیدو نه مخنیوی وشي .

د وزیرانو شورا په دې وروستیو کې پریکړه وکړه چې د ملکیتونود ثبت کار او مسئولیت باید له محاکمو نه دافغانستان د ځمکو خپلواکې ادارې( اراضي) ته د یوې اداري پروسې په توګه ولیږدول شي .په دې هکله یوه آزمېښتي پروژه په هرات او کابل کې پیلېدونکې ده.

د برېښنا ترلاسه کولو په برخه کې د قانوني کاري چوکاټ د بیا کتنې په هکله هم ګامونه اخیستل شوي دي .پارلمان د 2016کال په جنوري میاشت کې د برېښنا انرژي د خدمتونو د تنظیم قانون تصویب کړ .

خو داقانون په دې اړه ټولو قانوني خلاوو ته ځواب ویونکی نه دی .د بیلګې په توګه، دا قانون یوه خپلواکه مقرره نه ده جوړه کړې.

د سوداګرۍ پرچاپیریال د مثبتو اغیزو لپاره،د ښو قوانینو د لرلو ترڅنګ د ښو قوانینوانفاذ او پلي کول هم په هماغه کچه اړین کاردی .

د مقرراتو اغیزمن پلي کول، د مقرراتود کاري چوکاټ د جوړولو پرمهال پیل کیږي چې باید دا مقررات د دولتي او خصوصي سکتور له اړوندو شریکانو سره د پراخوسلامشورو له لارې جوړ شي.په قوانینو کې تعدیلات باید په واضح ډول د قوانینو پلي کوونکو سیمه ایزو ادارو، د سوداګرۍ او حقوقو له ټولنو او عامو خلکو .

( پیاوړي سیمه ایزحکومتونه کولای شي په ولایتونو کې د حکومتول اغیزمنتوب لوړ او ورسره هم مهاله د کابل له سرچینو نه، چیرته چې ډیرې بیروکراتیکي پروسې متمرکزې دي، په آسانۍ کټه واخلي.په ساختماني صنعت کې د خوندیتوب د بهبود لپاره د کابل ښاروالۍ په دې وروستیو کې یوه مقرره جوړه کړې ده چې د هستوګنې سرتیفیکیټونه معرفي کوي چې هغه د نوې جوړې شوې ودانۍ لپاره له ښاروالۍ نه د وروستي تائید ترلاسه کولو په اړه رولونه او اړتیاوې ځانګړې کوي .دې ته ورته سیمه ایز نوښتونه کیدای شي په یو ملي ودانیز قانون بدل شي. د مقرراتو په هغو ساحو کې چې په سیمه ایزه کچه یکې خپلواکې شته، په نورو ولایتونو کې سیمه ایزه ادارو د ښو کړنو، موډې لنډولو، او د لګښت او بیروکراتیکو پروسو د ستونزمنتیا کمولو په برخو کې ښې بیلګې وړاندې کړې دي.

**ځغلنده کتنه :**

**وړاندیز شوي اصلاحات اړوندې ادارې او نور شریکان د سوداګرۍ پیلول :**

**ملي**

- د افغانستان د سوداګریزو فعالیتونو او فکري شتمنیو د ثبت مرکزي اداره(ACBRI)
- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت
- د مالیې وزارت

**سیمه ایزې( ولایتي):**

- د ACBRIP ولایتي څانګې

**په ملي کچه سپارښتنې :**

- د زړو( تاریخ تیرو )مقرراتو په له منځه وړلو د سوداګرۍ د پیلولو د پروسې آسانول
- د کورني سوداګرو لپاره د جواز اخیستنې د مقرراتو د آسانولو کار ته دوام ورکول
- د جندر پراساس تبعیضي قوانینو حقوقي بیا کتنه

**په سیمه ایزه( ولایتي )کچه سپارښتنې :**

- د کابل د واحد کاري مرکز ( One-Stop Shop ) له تجربې دې د اغیزمنتوب د غوره والي لپاره کار واخیستل شي
- له کابل ښار نه بهر دې هم اصلاحات پلي شي

**د ساختماني جوازونو اړوندې مسئلې:**

**ملي**

- د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره
- د ښاري پراختیا وزارت

**سیمه ایزې( ولایتي):**
•د ښاري پراختیا ریاست
•د ښاروالۍ ساختماني دفتر
**نورې ادارې:**
•مسلکي اتحادیې( معماران او انجینران)
•د اوبو او ناولواوبو( فاضل آب )د سیستمونو اړوند خصوصي شرکتونه
**په ملي کچه سپارښتنې:**
•د ودانیز جواز د صدور لپاره دعیني معیارونو پر بنسټ د فیس د ساده سیستم برابرول
•د ودانیز کار د تفتیش لپاره د یو پیاوړي او اساسي سیستم جوړول
•د جوازونو په پروسه کې د دخیلو مسئولینو لپاره د سختو معیارونو معرفي کول
**په سیمه ایزه( ولایتي )کچه سپارښتنې:**
•په کابل کې د پیل شویو اصلاحاتو د پروسې په تعقیب، د قانوني کاري چوکاټ عصري کول او واضح کول
•د کابل په څیر، د ښاروالیو او د ښاري پراختیا ریاستونو د چارو مدغم کول
•په کابل کې د پیل شویو اصلاحاتو د پروسې په تعقیبولو، د جوازونو اخیستلو پروسې شفافیت( رونتیا):
•په کابل کې د پروسې د لګښت راټیټول
**د برښنا ترلاسه کول:**
**ملي**
•د افغانستان برښنا شرکت
•د انرژي او اوبو وزارت
**سیمه ایزې( ولایتي):**
•د افغانستان برښنا شرکت سیمه ایز دفترونه
**نورې ادارې:**
•د برښنا خدمتونو جواز لرونکي شرکتونه
•مسلکي اتحادیې( انجینران)
**په ملي کچه سپارښتنې :**
•د برښنا دنوي مزي ترلاسه کولو لپاره د مخکینیو لګښتونو راټیټول
•د اړتیا وړ برښنا او د هغې د لګښت د بلونو په برخه کې درونتیا( شفافیت )رامنځته کول
•د برښناخدمتونو د ډاډمنتوب د څارنې لپاره د یو خپلواک مقرراتي نظارت رامنځته کول
**په سیمه ایزه( ولایتي )کچه سپارښتنې:**
•د بلخ او ننګرهار په څیر، د افغانستان برېښنا شرکت د مرکزي دفتر او سیمه ایزو دفترونو ترمنځ د همغږۍ لاښه کول
•د نوي ترانسفارمر د لګولو د امر ورکولو او تائید واک د افغانستان برېښنا شرکت مرکزي دفتر نه ساحوي دفترونو ته لیږدول
**د ملکیت ثبتول:**
**ملي**
•د عدلیې وزارت
•د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره( اراضي)
**سیمه ایزې( ولایتي)**
•ابتدایي محکمې
•مخزن( د مرافعې محکمې آرشیفونه)
•مستوفیت( دمالیې وزارت د عوایدو ولایتي څانګه)
•ملکیتونه( د ښاروالۍ د ملکیتونو دفتر):
**په ملي کچه سپارښتنې:**

•په ابتدايي محاکموکې بايد معياري فورمې او د لکښتونو(فيسونو )مهالويش دلاسرسي وړ وي
•د ځمکو اړوند سوابقو او پروسو برېښنايي( ډيجيټلي )کول
•د اجارې مصئونيت او د ځمکو پر سر د شخړو د حل ميکانيزمونو ښه کول
•د ملکيت د ارزښت ټاکنې پروسې پرځای د ملکيتونود ارزښت ټاکلو لپاره د يو معياري
پروګرام رامنځته کول
•د کورنې پروسو آسانه کول
•ترڅيت وروسته پړاوونه سره يوځای کول
•د معلوماتو روڼتيا( شفافيت )يو لومړيتوب ګڼل
په سيمه ايزه( ولايتي )کچه سپارښتنې:
•په کابل او هرات کې د اعلان شويو آزمېښتي پروژو په څېر، د ملکيت د ثبتولو پروسه
پر يوې اداري پروسې بدلول.
هر څېرکي کې د" څه شی اصلاح کيدای شي؟ "برخه وګورئ .په څلورو اندازه شويو ساحو کې دهر پړاو لګښتونو او
مودې سرت شريک کړای شي .

# په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ، ۲۰۱۷:

ددې لپاره چې داډ حاصل شي چې ټول په قوانينو کې پر راغلوبدلونونو پوه شوي او عملي کيږي، د نوي قانون له متن سره بايد داسې لاربښود مل وي چې وښيي دا قانون څنګه تعبيرشي.د سوداګرۍ د مقرراتو په ټولو ساحو کې دې ته اړتيا ليدل کيږي چې د مقرراتو او پړاوونوپه هکله دلاسرسي وړ او کاروونکي ته آسانه معلومات برابر او وړاندې شي .
کله چې غوښتونکي د داسې معلوماتو له نه شتون سره مخ کيږي، نو حکومتي ادارې حساب ورکونې ته نشي اړويستلای او دا حالت بې قانوني او فساد ته لار هواروي .
د سوداګرۍ کولو څېرنې پر بنسټ افغانستان د نړۍ په کچه د هيوادونو ترمنځ د ساختماني مقرراتو د روڼتيا او لاسرسي په برخه کې تر ټولو په ټيټه کچه اجراآت لري .
د بېلګې په توګه، متشبثين د ودانيز جواز د لاسته راوړلو په برخه کې داړينو فيسونو، اسنادو او اداري پړاوونو په هکله مخکيني معلومات نلري .
خو په کابل کې په دې وروستيو کې په دې برخه کې د پام وړګامونه اخيستل شوي ترڅو د ودانيز جواز د
اخيستلو په هکله معلوماتو ته د خلکولاسرسی آسان کړي .
په دې لړکې د پروسو لاربښودونه،چک لستونه او معياري فورمې جوړې شوي چې په ښاروالی کې او همداراز پر ليکه (دانترنيټ پرمټ )د لاسرسی وړ دي .
همداراز په کابل کې د پوهاوي يو پراخ کمپاين پلی شوی دی چې د صنايعو کارکوونکي له مقرراتوسره آشنا کړي .کولای شو دا نوښت د يو ښه عمل د بيلګې په توګه ياد کړو چې کيدای شي په نورو ولايتونو کې هم کاپي او عملي کړای شي.دې ته ورته هڅې کولای شي چې د ملکيتونود ثبت او د برښنا مزي ترلاسه کولو پروسوپه هکله هم د ګټورو معلوماتو لاسته راوړل آسانه کړي .
د ځمکو او ملکيتونو اړوند معلومات لکه د فيس، پړاوونو او دملکيت د انتقال په هکله، بايد عامو خلکو ته د لاسرسي وړ شي .د برښنا خدمتونو وړاندې کوونکې ادارې بايد پيرودونکو ته په روښانه توګه تشريح کړي چې د برېښنا د نوي مزي د ترلاسه کولو لپاره کومو پړاوونو، څومره مودې او څومره لګښت ته اړتيا شته .
دلګښتونو د تعرفو په هکله معلوماتو ته هم بايد دخلکو لاسرسی آسانه کړای شي.

## سيمه ايزې او نړيوالې ښې کړنې :

په افغانستان کې پاليسي جوړوونکي کولای شي د همدې سيمه ايزې( ولايتي )کچې څېرنې له موندنو نه په ګټې اخيستنې سره خپل کار پيل کړي -ترڅو وپوهيږي چې په بيلابيلو سيمو کې د توپيرونو لاملونه کوم دي او پيژندل شوی ښې کړنې نورو سيموته کاپي کړي .که افغانستان ټولې هغه ښې کړنې چې په پنځه ولايتونو کې موندل شوې دي په نورو ځايونو کې هم پلي کړي نو ددې هيواد ټوليز اجراآت به ښه شي . د ملکيت د ثبت بيلګه درواخلئ .يو فرضي ځای چې دا پروسه پکې 9 پړاوونه وهي( لکه په کابل کې )او 75 ورځې وخت نيسي( لکه په کندهارکې )او د ځمکې د مديريت د کيفيت

په شاخص کې شپږ نومرې لري( لکه په بلخ کې )نو په نړیواله رده بندي کې به 175 یم ځا ی خپلوي -په تقریبي توګه د افغانستان له اوسني دریځ ) 186 ( نه 30 درجې لوړ اوله پاکستان ) 169 ( نه هم 12 درجې پورته.د ودانیز جواز په هکله، یوداسې ځای چې دا پروسه پکې 96 ورځې وخت نیسي او د ګودام د ارزښت 28.4 ٪ لګښت پرې راځي لکه په کندهار کې )او 13 پړاوونو ته اړتیا لري او د ودانۍ د کیفیت د کنترول په شاخص کې 2.5 نومره لري( لکه په کابل کې ) نو له سرحدي نومرې نه به یې واټن 41.12 وي.
دا د افغانستان له اوسنۍ نومرې ) 22.39 ( نه چې اوس د نړۍ په کچه یوه ټیټه نومره ده،
نیږدې 20 نومرې لوړه ده او له هندوستان (23.83) نه هم لوړه ده .
د څلورو اندازه شویو ساحو لپاره د2017 کال د سوداګرۍ کولو څېرنې پربنسټ له سرحدي نومرې نه د افغانستان اوسنی واټن په منځنۍ کچه 46.75 دی .د هغوټولو ښو کړنو اقتباس چې په سیمه ایزه کچه موندل شوې دي کولای شي دا اوسط 10نومرې لوړ کړي -) 56.89 ( او هیواد به مو په نړیوالې رده بندۍ کې په ټولیزه توګهسوداګرۍ کولو ته د آسانتیاو برابرولو په برخه کې 11 خانې لوړ لاړ شي، له 183 نه172ته .
افغانستان به بیا نور په سویلي آسیاکې تر ټولو ټیټې درجې هیواد نه وي14 .د جوړو په ښه زده کړې ته وده ورکول به ملي، ولایتي او د ښاروالیو پالیسي جوړوونکو ته دا فرصتونه برابر کړي چې په ځینو ساحو کې خپلې ښې کړنې له نورو سره شریکې او همداراز له نورو هم دا زده کړي چې په نورو سیمو کې په نورو ساحو کې کومو کړنو ښې پایلې لرلې دي .پایلې به ټولوته ګټورې وي.
په یو هیواد کې د سوداګرۍ چاپیریال د ښه کولو په موخه د اصلاحاتو د پلان جوړول اوپلي کول یو ننګوونکي کار دی - ځکه چې داد حکومت د ګڼو ادارو مشارکت او همدارازد همغږۍ هڅو او تخنیکي ظرفیت ته اړتیالري .خو د افغانستان حکومت په دې لارکې د مهمو ګامونو اخیستل پیل کړي دي.د اصلاحاتو پلي کولو د سوداګریو پیلول آسانه کړي او هیواد یې د سوداګرۍ د پیلولود آسانتیاوو په برخه کې د ښو کړنو لرونکواقتصادونو په لیکه کې راوستی دی، چې دااصلاحات له 2010 کال راهیسې پیل شوې دي .دا بریالۍ تجربه کولای شو نورو ساحوته د اصلاحاتو د هڅو په غځولو سره تکرارکړو.
هغه حکومتونه چې د مقرراتو د اصلاحاتوپروګرامونو ته په دوام ورکولو کې بریالي شوي دي داسې یوه جامع کړنلاره خپلوي چې د مقرراتو ګڼ شمیر ساحې ترپوښښ لاندې راولي .افغانستان کولای شي د نړۍد اصلاحاتو له تجربو ګټه واخلي .د بیلګې په توګه روندا هیواد د داخلي پروسو یوه کتنه ترسره کړه، د اصلاحاتو لپاره یې ساحې د لومړیتوبونو پربنسټ وټاکلې او د مقرراتود اصلاح یوه کمیټه یې جوړه کړه ترڅو داکمیټه ډاډ حاصل کړي چې د اصلاحاتو دپلي کولو په برخه کې د ادارو ترمنځ همغږي شتون لري او په دوامداره توګه د اصلاحاتوپه برخه کې پرمختګ وڅاري .دې ته ورته کمیټې د وزارتونو ترمنځ او آن د ښاروالۍ په کچه په ګڼ شمیر هیوادونو کې، د کولمبیا،هندوستان، اندونیزیا، مکسیکو، نایجیریا، پاکستان او پولنډ په ګډون جوړې شوې دي.د سوداګرۍ د مقرراتو اصلاحات کولای شي سترې پایلې ولري .د سوداګرۍ کولولپاره د آسانتیاوو په برخه کې د هیوادونوترمنځ لوړ مقام لرل له ډیرې ودې، ډیرودندو، کوچني غیر رسمي سکتور او لویومستقیمو بهرنیو پانګونو سره مل وي.
15- اصلاحات رسمي سکتور ته د شرکتونو اوکارکوونکو په راوستلو سره د مقرراتو د پلي کېدو لمن پراخوي .په دې توګه کارکوونکیکولای شي د روغتیا بیمې او تقاعد په څیرګټې ترلاسه کړي .سوداګرۍ مالیات ورکوي.د محصولاتو د کیفیت معیار ټاکل کیږي.سربیره پردې، رسمي شرکتونه د خپلوسوداګریو د پراختیا په موخه بانکي پورونوته او همداراز د ستونزو د حل په موخه محاکمو ته پراخ لاسرسۍ لري .د سوداګرۍپه مقرراتو کې اصلاحات چې ناقانونه کړنې کموي او د ملکیت حقوق پلي کوي زیانمنونکو ګروپونو، د بیلګې په توګه ښځو ته چې د سوداګرۍ د غیررسمي سکتور لویه برخه جوړوي، ډیرګټوردي.

(( فاعتبروا یا اولی الابصار))

(محمد انور ولید )

یادښت : [[ ددې څلورو برخو ډېرى مطالب د حکومت د ( درى نیم کلنو) لاسته راوړنو له ټولګې چاپېدو مخکې په ورځپاڼو او سا یټونو کې پخوا پرله پسې نشرشوي او په یاده حکومتي ټولګه کې هم ترې استفاده شوې ده .]]

## ځغلنده کتنه :

یادابښتونه:

1- کورني عواید د ناخالصو ملي تولیداتوGDP(
٪ 10.2ته ورسیدل( د 2014 کال د 8.7 ٪ لوړشول )او د 2016 کال په لومړیو اته میاشتو کې
د 2015 کال د همدې مودې په پرتله 30 ٪ لوړ شول.
نړیوال بانک، د افغانستان د پرمختګ په اړه نوي معلومات، اکتوبر( 2016 واشنګټن ډي سي :نړیوال
بانک،.) 2016
2 - د نړیوال بانک ګروپ، د افغانستان انځور، اکتوبر
2016واشنګټن ډي سي :د نړیوال بانک ګروپ،
2016 (.
3- د نړیوال بانک ګروپ معلومات،
. http://data.worldbank.org/indicator
د بې وزلۍ کچه چې په 2011 - 2012 کې 36 ٪ وه .
2013-2014 کې 39 ٪ ته لوړه شوې ده .دنړیوال بانک ګروپ، د افغانستان انځور، اکتوبر2016

(واشنګټن ډي سي :د نړیوال بانک ګروپ،.) 2016 :

د نړیوال بانک ګروپ، له 2017 نه تر 2020 مالي کلونو په اوږدو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت
د مشارکت کاري چوکاټ( واشنګټن ډي سي :نړیوال بانک،.) 2016
6- د افغانستان اسلامي جمهوریت، د افغانستان دسولې او پرمختګ ملي کاري چوکاټ( ANPDF، )
2017نه تر 2021 پورې( کابل،.) 2016
7- په افغانستان کې د مستقیمي بهرنۍ پانګونې کچه ټیټه پاتې شوې ده .د بهرنۍ پانګونې راتګ د2001
او 2005 کلونو ترمنځ په تدریجي ډول زیات شوچې 271 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلی ؤ .دهیواد په کچه امنیت
کې د خرابوالي راتلو له کبله،
د بهرنۍ پانګونې راتګ لږ او له 2006 کال راهیسې ډیر نامنظم شو، چې د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او
پرمختګ کنفرانس ( UNCTAD ) د معلوماتو پربنسټ په 2014 کال کې یې کچه 54 میلیونه ډالرو ته راټیټه
شوه.
8- نړیوال بانک، په 2017 کې دسوداګرۍ کولو څېرنه:ټولو ته برابر فرصتونه( واشنګټن ډي سي :نړیوال
بانک،.) 2016
9- د نفوسو معلومات د افغانستان د مرکزي احصائیې ادارې نه اخیستل شوي دي، http://www.cso .
gov.af/en/page/demography-and-socile-
. statistics/demograph-statistics/3897111په
2017کې دسوداګرۍ کولو څېرنه د 190 اقتصادونو
11د شاخصونو ټولګې ترپوښښ لاندې راوستې دي .د شاخصونو ډیری ټولګې د اقتصاد د سوداګرۍ د تر ټولو لوی
ښار د یوې واقعي سناریو نه را اخیستل شوې دي خو د یوولسو اقتصادونولپاره چې نفوس یې له 100 میلیونو لوړ دی
(بنګله دیش، برازیل، چین، هندوستان، اندونیزیا، جاپان، مکسیکو، نایجیریا، پاکستان، دروسیې فدراتیف او امریکا
متحده آیالات )د سوداګرۍ ډیټابیس د هماغه هیواد دویم لوی سوداګریز ښار معلومات هم راټول
کړي دي.
10د کابل لپاره معلومات د 2016 کال له جون میاشتې راپدیخوا راټول شوي دي .د نورو جزئیاتو لپاره سوداګرۍ کول
او په 2017 کې په افغانستان کې سوداګري کول "څېرکی وګورئ، د معلوماتو یادښتونه او د مرسته کوونکو لیست د
"کوروداني"په برخه کې وګورئ.
11- د نړیوال بانک ګروپ، د افغانستان ولایتي لنډیز،ډیسمبر( 2016 واشنګټن ډي سي :د نړیوال بانک
ګروپ،.) 2016
12- د اصلاحاتو لپاره ټولې سپارښتنې د هر څېرکي د څه شی اصلاح کیدای شي؟ "برخه کي په جزئیاتو
راغلي دي.

**13- په داسي حال کې چې د افغانستان واټن له سرحدي نومرې نه د ودانيز جواز په برخه کې ) 22.39 ( په نړۍ کې تر ټولو ټيټ دی، دا هيواد په نړيوالی رده بندي کې په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په منځ کې 186 يم ځای لري ځکه چې څلور هيوادونه غيرعملي اقتصادونه دي( ايريتريا، ليبيا، سوماليا او د سوريي عربي جمهوريت.)**

**14- که ټولې ښې کړنې اقتباس شوې وای نو افغانستان به له بنګله ديش نه چې اوس په 176 مقام کې دی، مخکې ؤ.**

**15- په اوسط ډول د اقتصادونو( هيوادونو )په منځ کې،د سوداګرۍ کولو څيرنې له سرحدي نومرې نه د واټن د ارزونې پربنسټ د مقرراتو په کيفيت کې يوسلنه توپير په کلنۍ مستقيمې بهرنۍ پانګونې کې له**

**250نه تر 500 ميليونو ډالرو پورې توپير رامنځته کوي .په نړيوال بانک کې د جان اندرسون او ادريان ګونزالز د" آيا سوداګري کول پر بهرنۍ مستقيمې پانګونې اغيزه لري؟ "پربنسټ، په 2013 کې د سوداګرۍ کولو څيرنه :د کوچنيو او منځنيو پانګونولپاره دقيق مقررات( نړيوال بانک :واشنګټن ډي سي،**

**2012کال .)د کوچني غيررسمي سکتور په هکله موندنې د سيمون جانکوف، کارالي مک ليش او ريتا رامالو د "مقررات او وده"، اقتصادي ليکونه 92 ،نومره 401 - 395 :) 2006 ( 3 مخونو نه رااخيستل شوي دي.**

**افغانستان به خپله نړيواله درجه د هغو ښو کړنو په اقتباس چې په ولايتي کچه موندل شوې دي، څومره ښه کړای شي؟**

**سرچينه :د سوداګرۍ کولو ډيټابيس:**

**يادښت : د نارينه وو او ښځو لپاره د سوداګرۍ د پيلولو په برخه کې په اوسط ډول پړاوونه او موده بايد وښيي چې .**

**افغانستان( کابل )د سوداګرۍ کولو درجه بندي په ۲۰۱۷کال کې څه ډول وه .**

**په درجه بندۍ کې دافغانستان بالقوه ځای:**

**د سوداګرۍ پيل**

**د برېښنا ترلاسه کول**

**د ملکيت ثبت**

**د ملکيت د جواز ترلاسه کول**

**د سوداګرۍ ترسره کونې د آسانتيا**

**برابرولو عمومي درجه بندي**

**د سوداګرۍ پيل**

**د ملکيت ثبت**

**د ملکيت د جواز ترلاسه کول**

**پای**